عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۸/۲۳

# اعلیحضرت محمد نادرشاه

## مـقـدمـــــه

اعلیحضرت محمدنادرشاه د سردارمحمدیوسف خان زوی او د سردارغلام یحیی خان لمسی، د ۱۲۶۲ هجري شمسي( ۱۸۸۳) د حمل د میاشتي په یوویشتمه د هند په دېره دون کي زېږېدلی دی. خپلي زده کړي یې په هند کي بشپړي کړي او په ۱۹۰۱ میلادي کال کي د امیر حبیب الله خان په غوښتنه د خپل پلار سردارمحمد یوسف خان، کاکا سردارمحمدآصف خان او څلورو ورونو سردارمحمدهاشم خان، سردارشاه محمود خان، سردار شاه ولي خان او سردار محمدعزیز خان سره یو ځای کابل ته ستون سو. هیواد ته له رسېدلو سره سم یې په پوځ کي په خدمت کولو بنا وکړه او په ډېر لږ وخت کي د خپل شخصي لیاقت، پوهي او استعداد په برکت د نایب سالارۍ او سپه سالارۍ درجو ته ورسېدی. سردارمحمدنادرخان د خپلي لومړنی ځوانی څخه د پوځي خدمت ترڅنګ له سیاسي فعالیتونو سره مینه درلوده او د حزب جوانان افغان، چي شهزاده امان الله خان او د هیواد تکړه منورینو برخه پکښي درلوده، فعال غړی وو. نادر خان په پوځي فعالیتونو او عملیاتو کي دونه فعاله او فوق العاده برخه واخیستله چي په ډېر لږ وخت کي د ډګروالی رتبي ته ورسېدی او په ۱۹۱۲ کال کي د منګلو د بشورش د ځپلو څخه وروسته نایب سالار او په ۱۹۱۴ کال کي سپه سالار سو. نادرخان، که څه هم چي افغانستان ته د راتللو سره سم په پوځي او سیاسي برخو کي فعال وو خو د ۱۹۱۹ کال د فبروري په میاشت کي، په لغمان کي، د امیرحبیب الله خان د وژل کېدلو څخه وروسته په سیاسي میدان کي ډېر زیات مطرح سو. شهرت یې ډېر ژر تر لندن، برلین او ماسکو پوري ورسېدی او دا اهمیت یې په ۱۹۳۴ کال کي د کابل په ارګ کي تر ویشتل کېدلو او وژل کېدلو پوري وساتی.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

نادرخان د افغانستان په منور قشر کي چنداني ښه نوم نه لري او چي نوم يې اخيستل کېږي نو معمولا د غدار کلمه ورسره ملګري وي. د دې يو علت دا دی چي وايی هغه د افغانستان له محبوب پاچا او د استقلال د ګټونکي اعليحضرت امان الله خان څخه قدرت غصب کړی دی. په داسي حال کي چي د اعليحضرت امان الله خان څخه قدرت حبيب الله کلکاني اخيستی وو او دا مسله له نادرخان سره هيڅ اړه نه لري. اعليحضرت امان الله خان د ۱۹۲۹ کال د جنوري په مياشت کي له پاچهی څخه استعفی وکړه او قدرت يې خپل مشر ورور عنايت الله خان ته وسپاره او د هماغه کال د مي د مياشتي په وروستيو شپو ورځو کي په غزني کي د حبيب الله کلکاني او مخالفو غلجيو قبايلو د حملو په مقابل کي له ماتي وروسته، د زابل له لاري، له افغانستان څخه ووت او ډېر ژر ايټاليې ته ولاړ. ډېر کسان داسي استدلال کوي چي نادرخان له پښتنو قبايلو سره ژمنه کړې وه چي پاچهي د اميرامان الله خان لپاره نيسی، خو کله چي قدرت ته ورسېدی، نو پر خپله ژمنه پښېمان سو. ځکه يې نو ګواکي غداري وکړه. البته د بشر په سياسي تاريخ کي هيڅ وخت داسي نه ده پېښه سوې چي يوه جنرال دي د توري په زور قدرت نيولی او په لوی لاس يې خپل حريف ته تسليم کړی وي. هر ډول منطق چي دا خبره مني، سياسي منطق او تاريخي سوابق يې نه مني.

مشهور ليکوال او ژورناليست، عبدالحميد مبارز د محمدعلم فياض د جرګه های بزرګ افغانستان د کتاب په حواله ليکي چي ځينو کسانو داسي آوازه خپره کړې وه چي ګواکي محمدنادرخان خلکو ته ويلي وه چي هغه د امان الله خان لپاره کار کوي. په داسي حال کي چي دا يوازي آوازه ده ځکه چي که نادرخان دا ويلي وای نو د جنوبي قبايل، چي د امان الله خان د اصلاحاتو مخالف ول او له هغه سره جنګېدلي ول، په هيڅ صورت د نادرخان په ملاتړ نه درېدل. حضرت فضل عمر مجددي به، چي په غه وخت کي په بمبيي کي په تبعيد کي ژوند کاوه، د نادرخان شاته نه وای درېدلی او دغه راز به انګرېزانو، چي د روسانو سره د امان الله خان د اړيکو سره مخالف ول، نادرخان ته اجازه نه وای ورکړې چي د هغوی په قلمرو کي تېر سي او د سقاو له زوی سره وجنګېږي. مبارز ص ۵۰

زموږ ډېر زيات ليکوالان او مورخين د نادرخان په باب ځکه منفي نظر لري چي وايي هغه د انګرېزانو په ملاتړ قدرت ته رسېدلی او حتی د هغوی لاسکوڅی وو ځيني خو دونه افراط کوي چي وايي نادرخان ان د وړوکوالي څخه انګرېزانو روزلی، افغانستان ته لېږلی، په دولت کي لويو مقامونو ته رسولی، د اميرامان الله خان په مقابل کي د حبيب الله کلکاني تر بري وروسته يې بيرته صحني ته رابللی او قدرت ته رسولی دی. حتی مرحوم غبار خو په خوست، لوګر او مشرقي کي، د وطن د نجات په جنګونو کي، د نادرخان، شاه ولي خان او سردارمحمدهاشم خان د قواوو پرله پسي ماتي او شکستونه هم د انګرېزانو دسيسي او پلانونه بولي او په دې عقيده دی چي انګرېزان يوه وروستي فرصت ته منتظر ول. غبار ص ۱۵ د دې مورخينو په نظر، افغانستان د انګرېزانو لپاره د سطرنج تخته وه او چي هر ډول يې زړه غوښت هغسي لوبه يې کوله. سړی له دوی څخه پوښتنه وکړي چي که انګرېزانو د افغانستان په سرنوشت کي دونه عمده او قاطع رول درلودی نو اعليحضرت امان الله خان څرنګه قدرت ته ورڅخه ورسېدی، څرنګه يې استقلال ورڅخه واخيست او څرنګه يې لس کاله خپل قدرت او له انګرېز سره دښمنی ته دوام ورکړ؟ ځيني دغه منورين په دې عقيده دي،او حتی ما پخپله ورڅخه اورېدلي دي، چي انګرېزانو ، د استقلال په جنګ کي، تل او وانه پوځي مرکزونه قصداً نادرخان ته خوشي کړل؛ څو له هغه څخه قهرمان جوړ کړي او په راتلونکو پېښو کي، په لازم فرصت کي، کار ورڅخه واخلی. دوی حتی استدلال کوي چي انګرېزانو کولای سوای

اعلیحضرت امان الله خان د نادر خان په وسیله را وپرزوی، مګر څرنګه چي امان الله خان په اولس کي محبوبیت درلود او په هغه صورت کي به نادرخان د خپلو خلکو له قهر اوغوسي سره مخامخ سوی وای ځکه یې نو یوځل امان الله خان د بچه سقاو په واسطه، چي هغه هم د دوی خپل سړی وو، را وپرزاوه او په هیواد کي یې بې قانوني او بې امني پیل کړه او بیا یې نو وروسته د سقاو زوی ته په نادرخان ماته ورکړه . که خبره داسي وي نو موږ د استقلال په ګټلو ولي افتخار کوو؟ ځکه چي دا ټولي پیښي انګرېزانو مخکي له مخکي سنجولي او نقشي یې د خپلو غوښتنو سره سمي عملي کړي دي. په زړه پوري خبره دا ده چي انګرېزانو دا کار ولي وختي نه کاوه چي پوره لس کاله یې خپل دښمن د کابل پر تخت پرې ایښی وو. او هغه پوره لس کاله د صوبه سرحد په پښتني قبایلو او د هند په خاوره کي د انګرېزي استعمار پر ضد لمسوني کولې.

بله خبره دا ده چي که نادرخان د انګرېزانو په ملاتړ، چي چنداني ثبوت او سند یې هم نسته، قدرت ته رسېدلی وي نو هغه په خپله لنډه څلور کلنه دوره کي له انګرېزانو سره کوم داسي تړون لاسلیک کړ چي هغه یا د افغانستان د خاوري تمامیت او استقلال ته خطر پېښ کړی او یا یې لرتربره افغانستان ته اقتصادي او سیاسي تاوان رسولی وي.

د ۱۹۴۰ په لسیزه کي، په کابل کي د برتانیي سفیرفریزر تیټلر په خپل کتاب افغانستان کي، له برتانیي سره د نادرخان د څرګندي دښمنی د سابقي په باب ليکي« د ۱۹۳۰ کال د جون په میاشت کي، نادرخان د برتانیي سفیر ته وویل چي د سرحد په برخه کي د افغانستان د حکومت د پالیسی اساس د پولي پر دواړو خواوو باندي د سولي ټینګېدل او د برتانیي د پاچا له حکومت سره ریښتوني دوستي ده.

دا ډېري خوږي خبري وې، مګر خو یوازي کلمات وه او بله هیڅ معنی یې نه درلوده. په هند کي ډېری په دې عقیده وه چي د پړانګ لپاره د خپل پوست د رنګ بدلول غیر ممکن دي. نادرشاه د سرحد د پالیسی په برخه کي د برتانیي ضد وو. خپل دښمنان یې د برتانیي په دوستی تورنول او د ژوند تر پایه پوري د برتانیي دښمن پاته سو. د دې ادعا د ثبوت لپاره شواهد کم نه ول » فریزر تیټلر ص ۲۳۵

بل ځای لیکي« د ۱۹۳۱ کال په پای کي په صوبه سرحد کي داسي آوازې خپرې سوې چي نادرشاه له برتانیي څخه وسلې او پیسې تر لاسه کړي دي. په دې توګه هغه برتانیې ته په کټه رسولو او چاپلوسي کولو تورن سو. پر هغه باندي دا احمقانه او غیر عادلانه تور ډېر ژر په صوبه سرحد کي خپور سو او د امان الله طرفدارانو د هغه پر ضد د پروپاګنډ د اصلي وسلې په توګه کار واخیست » هغه کتاب ص ۲۳۶

شوروي منابع، چي چنداني له نادرخان څخه ښه زړه نه لري، بیا هم هغه د انګرېزانو دښمن او مخالف بولي او وایي چي مولوی عبیدالله سیندهي د سپه سالار محمدنادرخان سره، چي په صوبه سرحد کي د برتانیي پر ضد د پښتني قبایلو د مبارزو طرفدار وو، نیژدې اړیکي لرلې. نادرخان د پولي د قبایلو په مشرانو کي ډېر زیات نفوذ درلود او د هند او افغانستان په پولو کي په اوضاع ډېر ښه پوهېدی. تیخانوف ص ۱۲۲

تیخانوف لیکي چي سپه سالار نادرخان د برتانوي هند د پښتنو سره په خپلو ټولو امکاناتو مرستي وکړې. هغه په دې باور وو چي د آزادو قبایلو پښتانه د انګرېزانو د بل یرغل په مقابل کي د یوه ټینګ دېوال حیثیت لري. په کابل

کي د انګلستان سفير همفريس څکه په دې عقيده وو چې د افغانستان حکومت ښايي ډېر ژر د ۱۹۲۱ کال تړون لغو کړي. هغه کتاب ۱۶۰

په کابل کي د شوروی اتحاد سفير راسکلينکوف، خارجه وزير چيچيرين ته په يوه ليک کي وايي چي د اولسي جرګي ريس شېراحمد خان، چي د انګرېزانو طرفدار دی په مجلس کي د برتانيې سره د افغانستان د دفاعي تړون د لاسليک کېدلو ملاتړ وکړ او د حربيې وزير نادر خان د هغه د وينا په مقابل کي سخت عکس العمل وښود. هغه وويل چي برتانيه د لومړي نړی وال جنګ، او په هند کي د ناکراريو له امله اوس هغه پخوانی زور نه لري چي بيا به له افغانستان سره جنګ وکړای سي. افغانستان له برتانيې سره د دفاعي تړون د لاسليک کولو له امله نه يوازي خپل استقلال له لاسه ورکوي بلکه د اسلام له ګټو سره خيانت کوي؛ او د خپل حق تر لاسه کول ځنډوي. نادرخان وويل يوازينی لاره چي د ده په نظر معقوله ښکاري هغه د برتانيې د پېشنهادونو ردول او له روسيې سره د قرارداد منظورول دي. هغه کتاب ص ۵۹۹

يو مهم ټکی چي موږ يې بايد په نظر کي ولرو هغه دا دی چي د نادرخان نظام د امان الله خان پر ځای نه دی راغلی چي موږ يې يو له بله سره مقايسه کوو، بلکه د سقاوي نظام د وحشت او بربريت پر ځای، چي له نېکه مرغه د تاريخ ليکونکو او ژورناليستانو د سترګو ليدلي حالات په ليکلي او چاپي بڼه موجود دي، منځته راغلی دی. دا وخت، اعليحضرت امان الله خان له ملکه وتلی او ايټاليې ته رسېدلی دی؛ والی علی احمدخان، چي د تخت د نيولو بل مدعي وو، د سقاوي رژيم له خوا اعدام سوی دی؛ غلام نبي خان چرخي، د خپلو ورسره شوروي پوځونو سره بيرته د آمو تر سيند اوښتی او د شوروي اتحاد خاورې ته ننوتلی دی او د سقاوي رژيم په مقابل کي يوازي نادرخان پاته دی. که نادرخان هم ميدان پرې ايښی او ماته يې کړې وای نو، د سقاوي رژيم وحشت ته په کتلو سره، موږ د افغانستان د سرنوشت او تاريخ په باب تصور کولای سو .

په دې کي شک نسته چي نادرخان يو مستبد سړی وو او د خپلو سياسی رقيبانو په ځپلو کي يې له زبردستی څخه کار واخيست او د هغه ورور سردارهاشم خان استبداد ته نور هم زور او دوام ورکړ او څوارلس کاله يې په بشپړه زبردستي حکومت وچلاوه؛ خو موږ بايد دونه انصاف ولرو چي يو ځل د اعليحضرت امان الله خان څخه مخکي د اميرحبيب الله خان او د هغه د پلار امير عبدالرحمن خان استبداد او ظلمونه وګورو، بيا د اعليحضرت امان الله خان له سقوط څخه وروسته د سقاوي نظام وحشت او بربريت په باره کي د مورخينو او ژورناليستانو د سترګو ليدلي حالات تر نظر تېرکړو، بيا نو د شهيد داوود خان له سقوط څخه وروسته د خلقيانو، پرچميانو، مجاهدينو، طالبانو حکومتونه او، د امريکا او ناټو ترمستقيمي حمايې لاندې، اوسنی نظام را په زړه کړو. په دوی کي کوم يو د استبداد، بې قانونيو، وحشت، تېريو، بې امنيتيو او اداري فساد له پلوه د اعليحضرت نادرشاه له زماني سره مقايسه کولای سو؟ که د پرديو تر مستقيمي اغېزې لاندې حکومت کول او د خپلو اولسونو ګټي تر پرديو قربانول، چي د نادرخان په باره کي يې لږترلږه يو مثال هم نه دی موجود، عيب او ملي خيانت وي نو دا وروستي نظامونه يې، هر يو، جلا جلا، ښه مثالونه دي. دا نظامونه به موږ ته دښمنو ګاونډيانو او بهرنيانو راجوړ کړي وي خو عاملين يې زموږ خپل وطنوال دي .

ځینو لیکوالانو او مورخینو خو د نادرشاه په باب له دونه تنګ نظری او تعصب څخه کار اخیستی دی چي د خپلو کتابونو یو مخ یې له بل سره ضد او مخالف وي. فرهنګ خو دونه افراط کوي چي د نادرشاه په مقابل کي د سقاوي رژیم صفت کوي. په داسي حال کي چي د سقاوي نظام بی امنیتی به یې په خپلو سترګو لیدلي وي.فرهنګ لیکي چي د نادرخان سره قبایلي خلک کابل ته داخل سول او په چور او تالان یې پیل وکړ خو د کابل خلکو چي څو میاشتي مخکي یې کابل ته د سقاویانو د ننوتلو په وخت کي د هغوی نظم ونسق او د خلکو پر شته منیو باندي له تېري کولو څخه پرهېز لیدلی وو، نو له نوي نظام څخه یې ښه انتباه وانه خیستله. فرهنګ ص ۶۰۲

همدغه لیکوال څو پاڼي مخکي، چي ښایي وروسته به یې خپله لیکنه هېره وه، د سقاو او د هغه د نظام د چور او چپاو، بې عدالیتو او بې امنیو په باب لیکي« دې ټکي ته باید توجه وسي چي یوه ډله خلک یې په حق یا ناحقه، او په هر حال کي، له تحقیق او شرعي محاکمې پرته اعدام کړل او وې نه غوښتل یا یې نه سو کولای چي د خپلو یارانو او انډیوالانو د ستمګریو مخه ونیسي، بلکه برعکس، هغوی ته یې اجازه ورکړه چي د خلکو پر سر اومال باندي په خلاصو لاسونو تېری وکړي. خپلو همکارانو ته یې د کرنیل خومختار او جرنیل خومختار خندونکي القاب ورکړل او خپل حکومت یې د خلکو مسخره کړ...» هغه کتاب ص ۵۹۶

# محمد نادرخان د سیاست په میدان کي:

امیرحبیب الله خان د ۱۹۱۹ کال د فبروري پر شلمه د لغمان د کله ګوش په علاقه کي، چي د هغه د ښکار او سات تېري سیمه وه، په نیمه شپه کي، په خپله خېمه کي ووژل سو. دا چي امیر د خپل پوځ او محافظینو په منځ کي ووژل سو او قاتل مع‌لوم نه سو، څرګنده خبره ده چي د دربار تر ټولو عالي رتبه مقاماتو د هغه په وژلو کي لاس درلود. حتی مشهور مورخ فیض محمد کاتب، چي په هغه وخت کي حاضر وو، لیکي چي د امیر کشر ورور نایب السلطنه سردارنصرالله خان، په لوی لاس، خپل پوځیان او پولیس د قاتل له تعقیبولو او نیولو څخه منع کړل. سپه سالار محمدنادر خان او د هغه ورونه ټول حاضر ول او فیض محمد کاتب لیکي چي عسکرو غوښتل هغوی د امیر د قتلېدلو له امله ووژني، خو د امیر مشر زوی معین السلطنه سردار عنایت الله خان د عسکرو مخنیوی وکړ. سپه سالار محمد نادرخان او د هغه ورونه کابل ته بندیان راوستل سول او ډېر ژر بیرته خوشي سول. سردارنصرالله خان، چي په جلال آباد کي یې ځان پاچا اعلان کړی وو، لږ وخت وروسته د ارګ په بندیخانه کي ساه ورکړه او جګړن علی شاه رضا، چي ویل کېږي د امیر د قتل په شپه، نوکریوال وو، په وظیفه کي د غفلت او د امیر په قتل کي د لاس لرلو په ګناه اعدام سو. د امیر قاتل او د قتلولو محرک، په دقیق ډول، تر اوسه هم معلوم نه دی؛ حتی د قتل د علت په باب یې هم د نظر اتفاق نه دی موجود.

اعلیحضرت امان الله خان، چي د تنکی ځوانی څخه یې له انګرېزانو سره مخالفت د نفرت سرحد ته رسېدلی وو، ډېر ژر له برتانیې څخه د خپلواکی اعلان وکړ او د مشرقي، پکتیا او کندهار په جبهو کي یې د انګرېزانو پر پولو او قواوو باندي یرغلونه پیل کړل. برتانوي مورخین د اپرېل د یوولسمي او دوولسمي د پنجاب د خونړیو پېښو، چي هم په ښارونو کي دننه بلواوي سوي او هم پر حکومتي تاسیساتو باندي حملې وسوې، او په کابل کي د هند د

خپلواکی لپاره د موقتي حکومت د مشرانو تر منځ د ارتباط احتمال ته اشاره کوي. په دغه وخت کې جنرال ریکس ډایر، چې وروسته د تل په جنګ کې د نادرخان سره مخامخ سو، په امرتسر کې وو او د جلیان واله په باغ کې یې پر بې دفاع خلکو باندې په بې خبره ډزو کې ۳۷۹ تنه مړه او ۱۵۰۰ تنه زخمیان کړل. د هغه د دغه بېرحمانه حملو سره د پنجاب ښورښونه، چې فکر کېدی د ډهلي د ۱۸۵۷ کال د پاڅون په ډول به زور واخلي، کرار سول. سوینسن ص ص ۲۷۰-۲۷۱

د کابل د موقتي حکومت مشرانو، مولوی عبیالله سیندهي، مولوی برکت الله او راجا مهیندرا پراتاپ په پېښور کې د افغانستان د پوسټ او ټلګراف له مامورغلام حیدر سره، چې انګرېز مورخ سوینسن یې نوم عبدالوادي لیکي، او په پېښور کې د هندوانو او مسلمانانو د یوې متحدی کمېټې مشر وو، په تماس کې ول. افغان مامور د کابل حکومت ته لیکلي ول چې په ټول هند کې د برتانیې د حکومت پر ضد پاڅون روان دی او که د افغانستان له لوري پر برتانوي هند باندې حمله کېږي نو هندو او مسلمان به ټول د برتانوي استعمار پر ضد ودرېږي. خو د افغانستان د پوسټ مامور د مې پر اوومه د برتانیې یوه جاسوس ته، چې د غلام حیدر په کمېټه کې یې نفوذ کړی وو، پر برتانوي هند باندې د امان الله خان د حملې په باب معلومات ورکړي ول او هغه ته یې ویلي وه چې د افغانستان پاچا د مې پر پنځه لسمه پر خیبر، کرم او کویټه باندې، په یوه وخت کې د حملو خیال لري. د صوبه سرحد د ایالت سر کمیشنر سر جورج کیپل سمدستي د پېښور ښار محاصره کړ. په ښار کې دننه فعالین یې ، د افغانستان د مامور په شمول، ټول ونیول. د هغه په کور کې یو لک نغدي روپۍ او زیات شمېر شبنامې او تبلیغي پاڼې تر لاسه سوې. په یوه پاڼه کې لیکل سوي وه چې په امرتسر کې سیکهانو د برتانوي جنرال حکم نه وو منلی او د توپکو خولې یې پر انګرېزانو را اړولي وې. یو لیک غلام حیدرامان الله خان ته لیکلی وو او په هغه کې راغلي وه چې د سیکهانو عسکري قطعو هغه ته اطمینان ورکړی دی چې پر برتانوي هند باندې د افغانستان د حملې په صورت کې به د افغانستان پر عسکرو ډزې ونه کړي. یو لیک لا د خارجه وزیر محمود طرزي وو، چې په سیمله کې یې د خپل استازي په نوم لیکلی او له هغه څخه یې غوښتي وه چې د امان الله خان لپاره د هندانو او مسلمانانو څخه بیعتونه واخلي او هغوی ته وواییي چې موږ د هندیانو په غم شریک یو او د هغوی ملاتړ کوو. هغه کتاب ص ص ۲۷۰-۲۷۱

که له یوې خوا د امرتسر پاڅون لرترلږه شل ورځې ځنډېدلی او د برتانوي هند سره د افغانستاتن د جنګ له پیل سره برابر سوی او مخکې له مخکې ځېل سوی نه وای او له بلې خوا په پېښور کې د افغانستان د مامور لیکونه او رازونه برالا سوي نه وای نو ښایي د جنګ نتیجه بېخي بل راز سوې وای. خو امان الله خان د مې د څوارلسمي لپاره تیاری کړی وو او په دونه لویه نقشه کې سمدستي تغییر راوستل ممکن نه وو. د جنګ په دریو واړو جبهو کې یوازې سپه سالار محمدنادرخان توره وکړه او د انګرېزانو څخه یې د تل او وانه ښارګوټي او پوځي مرکزونه ونیول. او شاه محمود خان، چې په همدغه جبهه کې جنګېدی، له انګرېزانو څخه د پیوار کوتل ونیوی .

که څه هم چې انګرېزانو د جنګ په ختیځه جبهه یعني پر خیبر باندې د جنرال صالح محمدخان د حملې مخه ونیوله خو د جنوبي په جبهه کې د نادرخان حملو یو ډول ناڅاپي شکل درلود او قومي ملېشو، لکه څرنګه چې انګرېزي جنرالانو یې پخوا پېش بیني کړې وه، په جنګ کې نه یوازې توره ونه کړه بلکه زیاتر د نادرخان ملګري سول او

د تل پر ښارګوټي او پوځي مرکز يې د حملي او پوځي عملياتو لاره ورته هواره کړه. نادرخان د مي تر نهه ويشتمي پوري د انګرېزانو په خاوره کي دونه پرمختګ وکړ چي هغوی پر جلالاباد باندي د خپلي پلان کړي حملي څخه تېر سول او خپلي قواوي يې د تل او کورم جبهې ته متوجه کړې. انګرېزان ځکه وارخطا سول چي د تل د جبهې په شاوخوا کي يې دونه قواوي چي د نادرخان سره دي مقابله وکړي نه درلودلې. انګرېزانو په ډېر تلوار د تل د جبهې د عملياتو وظيفه تورن جنرال ډاير ته، چي څه باندي يوه مياشت مخکي يې په امرتسر کي بې دفاع خلک قتل عام کړي ول، وسپارل. جنرال ډاير د مي د مياشتي پر نهه ويشتمه ځان د تل سيمي ته ورساوه او په دغه وخت کي له نادرخان سره د ځدرانو د قبيلې مشر ببرک خان هم ملګری سو، او د کورم د رود په جنوب کي يې خپل قوتونه واچول.

له ببرک خان سره قومي ځوانان، چي زياترو يې ټوپک نه درلودل، ملګري ول او يو ناڅاپه د جنرال ډاير د توپچي قواوو د ګوليو له سخت باران سره مخامخ سول. د ببرک خان قواوو ته په هغه جنګ کي دونه تلفات ورسېدل چي خپل مړي يې د جنګ له ميدان څخه وړلای نه سول او په شا تګ ته مجبور سول. په همدغه وخت کي د انګرېزانو بمب غورځونکو الوتکو پر جلال اباد او کابل باندي بمباري وکړل. د افغانستان خلک او عسکر د هوايي جګړې سره هيڅ بلد نه ول او اکثريت خلکو الوتکه بېخي ليدلې نه وه. په هر صورت د مي پر يودېرشمه سهاروختي، چي نادرخان به د بلي حملي لپاره تياری کاوه، سپه سالار ته د کابل څخه خبر ورسېدی چي حکومت انګرېزانو ته د اوربند پېشنهاد کړی دی او جنګ بايد ختم سو. نادرخان د کابل پيغام سمدستي جنرال ډاير ته واستاوه او هغه هم يوه ورځ وروسته جنګي عمليات بند کړل. سوينسن ص ص ۲۷۹-۲۸۱

سپه سالار د، مي پر يودېرشمه، د اوربند تر اعلانېدلو پوري د انګرېزانو په خاوره کي پاته سو او کابل ته فاتح راستون سو. سردار محمد نادرخان د استقلال د جنګ د ختمېدلو څخه وروسته، د خپلو خدماتو او په جنګ کي د زړه ورتيا او تدبير ښودلو په بدل کي، سمدستي د وزير حربيه په حيث وټاکل سو .

اعليحضرت امان الله خان د هيواد له ترقۍ سره د لېوني ميني درلودلو په اساس ډېر ژر په هره ساحه کي په انقلابي اصلاحاتو لاس پوري کړ. اصلاحاتو ډېر خلک خوشاله او ډېر خلک د وسله وال عکس العمل ښودلو ته پولي خوابدي کړل. په دې ضمن کي د خوست ښورښ، چي زيات وکم لس مياشتي( د ۱۹۲۴ کال د مارچ له نيمايي څخه تر ۱۹۲۵ کال د جنوري تر وروستيو شپو ورځو پوري) يې دوام وکړ او دولت او خلکو ته يې د سر اومال ډېر درونده تاوان ورساوه د يادوني وړ دی. دا ښورښ د ملاعبدالله، چي په دولتي مطبوعاتو کي ملای لنګ بلل کېدی، او د هغه ملګري ملا عبدالرشيد پيل او ښورښ هغه وخت خطرناک زور واخيست چي د امير محمديعقوب خان زوی عبدالکريم له برټانوي هند څخه افغانستان ته ننوت او د ښورښيانو سره ملګری سو .

د پوځ ډېرو زياتو افسرانو ځکه د دې ښورښ په ځپلو کي برخي اخيستلو ته زړونه نه ښه کول چي ډېر زيات عسکر د جنوبي د خلکو اولادونه ول. سپه سالار نادرخان، چي له لومړي سره د اعليحضرت امان الله د اصلاحاتو له سرعت سره مخالف وو، د خوست د ښورښ د ځپلو د عملياتو قوماندانې ونه منله او په عوض کي يې په پاريس کي د افغانستان سفارت، چي يو ډول تبعيد بلل کېدی، ومانه. تيخانوف ص ۱۶۸

په زړه پوري خبره دا ده چي د دې ښورښ په ځپلو کي دواړو دښمنو قدرتونو، شوروی اتحاد او برتانيي، د افغانستان له حکومت سره مالي او پوځي مرستي وکړې. د ۱۹۲۵ کال د مي پرپنځه ويشتمه ستالين، ټروټسکي او چيچيرين د کمونيستې ګوند د مرکزي کميټي سياسی دفتر ته پيشنهاد وکړ چي افغانستان ته سمدستي دوه سوه پنځوس زره روبله ولېږي. دغه راز د همدغه کال د آګسټ په مياشت کي د شوروي خارجه وزير پيشنهاد وکړ چي افغانستان ته پنځه زره ميله توپکونه او مرمی، له پنځوس څخه تر سلو پوري ماشيندار او درې د راډيو دستګاه وي ولېږي او هغه هيواد ته دي د جنګي الوتکو د لېږلو پروګرام چټک کړي او دغه راز دي شوروي پيلوټان ور ولېږل سي. هغه کتاب ص ۱۷۳

د همدغه کال د اګسټ په مياشت کي برتانيې افغانستان ته دوې جنګي الوتکي ورکړې او ښورښيانو ته يې درانه تلفات ورسول. هغه کتاب ص ۱۷۴

د خوست د ښورښ ځپل کېدل، چي ډېر زيات وخت يې ونيوی، د دولت او خلکو دواړو لپاره ډېر ګران تمام سو. ياغيانو ته ډېر زيات مالي او ځاني تلفات ورسېدل. تقريبا درې زره پنځه سوه کورونه تباه او وسوځول سول؛ پنځه لس سوه پنځه اويا ياغيان مړه او ټپيان سول؛ او څلوره سوه پنځوس ښځي او ماشومان له يخنيه او لوږي تلف سول. د حکومتي قواوو ځاني تلفات هم تر دې کم نه ول. په دې ښورښ کي دولت ته پنځه ميليونه سټرلينګ پونډه، چي د افغانستان دوه کلن ملی عايد کېدی، تاوان ورسېدی. ګريګوريان ص ۲۵۵

يو شی چي د خوست د ښورښ په ځپل کېدلو کي يې د افغانستان له حکومت سره ډېره مرسته وکړه او ياغيان يې تر اندازې زيات تجريد او د خلکو په نظر کي سپک کړل هغه د حکومت دا تبليغ وو چي د خوست په ښورښ کي انګرېزان مستقيمه برخه لري. سنځل نويد په خپل کتاب کي د انګلستان د آرشيفونو په حواله ليکي چي پخپله انګرېزان هم په دې نه پوهېدل چي عبدالکريم ته مالي او پوځي مرستي له کومه رسېږي. د افغانستان حکومت هم له دې درکه سخت مايوس وو چي د خوست په ښورښ کي يې د انګرېزانو د لاس لرلو په باب هيڅ سند او مدرک تر لاسه کولای نه سو. دا خبره پخپله محمودطرزي په پېښور کي د انګرېزانو يوه عالي رتبه مامور ته کړې وه؛ شېراحمدخان، چي د محمودطرزي په غياب کي يې د خارجه وزارت چاري پر مخ بيولې، په کابل کي د انګرېزانو د سفارت شارژدافير مکوناچي ته اعتراف کړی وو چي د افغانستان حکومت د خوست په ښورښ کي د انګرېزانو د برخي درلودلو په باب هيڅ مدرک په لاس کي نه لري. هغه په دې ملاقات کي پر دې خبري اعتراف کړی دی چي د افغانستان حکومت د خوست په ښورښ کي د انګرېزانو د لاس لرلو موضوع د عبدالکريم او ملاعبدالله د تجريدولو او بدنامولو په خاطر راپورته کړې وه. شېراحمدخان مکوناچي ته اطمينان ورکړی وو چي د خوست د ښورښ د کرارېدلو څخه وروسته به ډېر ژر اعلان وکړي چي افغانستان د خوست په ښورښ کي د انګلستان د لاس لرلو په باب هيڅ مدرک او سند تر لاسه کړی نه دی.سنځل نويد ص ص ۱۴۷-۱۴۸

آدمک وايی چي امان الله خان د خوست د ښورښ د ځپل کېدلو څخه وروسته ۵۳ تنه اعدام کړل او نور يې په شاقه بند محکوم کړل او بېلو بېلو ولاياتو ته يې واستول. ص ۹۹ مګر شوروي منابع وايي چي يوازې په کابل کي تقريبا سل تنه اعدام سول او په کابل او نورو سيمو کي د ښورښ د مشرانو تعقيب او آزار پيل سو. تيخانوف ص ۱۷۶

اعليحضرت امان الله خان، د خوست د بنوربن د ځېلو ځخه وروسته، دې حقيقت ته ښه متوجه سو چي د خپلو اصلاحاتو د پروګرام د عملي کولو لپاره تکړه او منظم پوځ او عصري وسلو ته اړتيا لري. د شوروي اتحاد مشران، چي د انګرېزانو په مقابل کي د امان الله خان د درېځ ملاتړي ول، هم دې حقيقت ته متوجه ول او د بنوربن ځخه وروسته يې سمدستي فيصله وکړه چي له افغانستان سره خپلي پوځي او مالي مرستي زياتي کړي. د کمونيستې ګوند د افغانستان په باب په خپله خاصه غونډه کي د پوځي او سمندري چارو کميسار فرونزې ته وظيفه ورکړه چي د افغانستان چاري وڅېړي. د فرونزې او خارجه وزير چيچرين د توصيې په اساس د کمونيستې ګوند سياسي دفتر د ۱۹۲۵ کال د مارچ پر شپږ. ويشتمه فيصله وکړه چي پر افغانستان باندي شپږ جنګي الوتکي وپلوري او ۲۵۰ زره روبله مرسته ورسره وکړي او دغه راز د پنځو سوو زرو روبلو په ارزښت وسلې او مهمات په ارزانه بيه ورباندي خرڅ کړي.

د ۱۹۲۵ کال په نيمايي کي امان الله خان له شوروي اتحاد ځخه د نورو پوځي مرستو غوښتنه وکړه او د شوروي کمونيستې ګوند د هماغه کال د سپتمبر په مباشت کي فيصله وکړه چي له افغانستان سره په کال کي ار يو ميليون روبله زياته پوځي مرسته وسي. شوروی اتحاد دغه راز فيصله وکړه چي د افغانستان د پيلوټانو د روزلو لپاره زمينه برابره کړي. امان الله خان له شوروي اتحاد ځخه پنځوس زره توپک او يو ميليون مرمۍ واخيستلې او شوروي اتحاد په خپلو کارخانو کي د افغانستان پنځه لس زره له کاره لوېدلي او خراب سوي توپکونه ترميم کړل .

شوروي اتحاد له افغانستان سره خپلو پوځي مرستو ته دوام ورکړ او د کمونيستې ګوند سياسي دفتر د ۱۹۲۷ کال په پسرلي کي فيصله وکړه چي افغانستان ته په همدغه کال کي، په عاجلاه توګه، د دريو ميليونو په اندازه وسلې او مهمات په وړياتوګه واستوي او د يوميليون روبلو په اندازه پوځي مهمات ورباندي وپلوري. تيخانوف ص ص ۹۶-۱۹۳

امان الله خان د پوځي چارو هري برخي ته توجه زياته کړه او په هغه چټکي يې د اصلاحاتو پروګرام هم عملي کاوه.

که ځه هم چي شوروي منابع د حربيې له وزارت ځخه د نادرخان د برطرفه کېدلو علت د خوست په بنوربن کي د برخي اخيستلو ځخه د هغه انکار بولي خو ژورناليسټ او ليکوال برهان الدين کشککي، چي د هغه وخت د زياتو تاريخي پېښو عيني شاهد دی، ليکي چي نادرخان د خوست د بنوربن له پيل کېدلو ځخه ډېرمخکي له امان الله خان سره د ځينو اختلافاتو په اساس استعفی کړې وه. نادرخان د ۱۹۲۲ کال د ډسمبر په مياشت کي، يعني د خوست له بنوربن ځخه ځه باندي يو کال مخکي اعليحضرت امان الله خان ته په خپله استعفی کي ليکلي وه چي له يوې خوا ناروغ دی او له بلي خوا د هغه په حکومت کي داسي کسانو ځای نيولی دی چي دی د هغوی له افکارو او اعمالو سره نه سي جوړېدلای. کشککي ص ۲۶۲

ليکوال د امان افغان د پنځم کال د شپږمي ګڼي د شپږم او اووم مخ په حواله ليکي چي اعليحضرت امان الله خان د ۱۳۰۲ ( ۱۹۲۳) کال د کب د مياشتي په اته ويشتمه يوې غونډي ته په وينا کي محمدولي خان د حربيې د وزير په حيث وټاکی او نادرخان يې په فرانسه کي د مختار وزير په توګه مقرر کړ. هغه کتاب ص ۲۶۹

نادرخان د امان الله خان د وینا په جواب کي وویل چي بلي ما له څه وخته راهیسي ستاسي له حضور څخه غوښتي دي چي ما په بهر کي یوه ماموریت ته ولیږی. حتی که لویه وظیفه نه وي په یوه دفتر کي په سرکاتبي او کاتبي هم قانع یم. هغه کتاب ص ۲۷۱

نادرخان څو میاشتي په کابل کي د فرانسي اګریمان ته منتظر پاته سو؛ په دغه وخت کي د هغه مشر زوی محمدطاهر، چي په فرانسه کي یې زده کړي کولي، وفات سو او نادرخان فرانسي ته حرکت وکړ. فریزر ټیټلر هم د نادر خان د استعفی علت د امان الله خان د اصلاحاتو له پروګرام سره د هغه مخالفت بولي او لیکي« کله چي نادرخان په ۱۹۲۴ کال کي له کابل څخه د فرانسې پر لور حرکت کاوه نو پیش بیني یې وکړه چي د امان الله خان بیړني او بېځایه اصلاحات به ډېر ژر د ده او د ده د هیواد د بربادی سبب سي. په فرانسه کي چي یې له دوستانو او ملګرو څخه هر رپوټ تر لاسه کاوه د ده نظر او اندېښنه یې تاییدوله؛ تر څو په ۱۹۲۶ کال کي یې حوصله ختمه سوه او د سفارت له وظیفي څخه یې هم استعفی وکړه او د فرانسي جنوب ته وخوځېدی» ټیټلر ص ۲۲۵

کله چي امان الله خان په ۱۹۲۸ کال کي د اروپایي هیوادونو په سفر روان سو نو نادرخان او د هغه ورونو سردارهاشم خان او سردار شاه ولي خان له هغه سره د ناپل په ښار کي وکتل. نادرخان د همدغي لیدني په ترڅ کي امان الله خان ته وویل چي د افغانستان اوسني اجتماعي او سیاسي حالات د هغه ژورو اصلاحاتو ته تیار نه دي او د خلکو رسوم او رواجونه د هغه بیړني او افراطي تغییرات نه سي منلای. نادرخان ونه سو کړای چي خپل نظریات په امان الله خان ومني، ځکه نو د فرانسي جنوب ته ستون سو او هیڅ ډول اعزازي او رسمي مقام یې ونه مانه؛ او وروسته یې نو وطن ته د ستنېدلو په باب د اعلیحضرت امان الله خان امر ته هم غاړه کښې نه ښوده. سنځل ص ۱۸۷

امان الله خان په دي پوهېدی چي د هغه د اصلاحاتو له پروګرام سره مخالفتونه موجود دي؛ ځکه یې نو له شوروي اتحاد، فرانسي، ایټالیې او حتی انګرېزانو څخه په زرهاوو ټوپکونه او توپونه، په میلیونو مرمی او جنګي الوتکي رانیولي. شوروي منابع لیکي امیر امان الله خان ښایي دي وسلو زړه ورکړی وو چي په هیواد کي د ښورښونو سره سره یې د اروپایی هیوادونو اوږده دوره پیل کړه؛ په داسي حال کي چي هغه، په هیواد کي د ښورښونو د کرارولو لپاره، تر عصري وسلو یوه منظم او وفادار پوځ ته اړتیا درلوده او وروستیو پیښنو وښودله چي د عصري وسلو ترلاسه کولو د منظم او وفادار پوځ لرل مشکل دي. تیخانوف ص ۱۹۷

اعلیحضرت امان الله خان خپل د اصلاحاتو پروګرام په خپل جوش او خروش تعقیب کړ. هغه د اروپایي هیوادونو او د اسیا د پرمخ تللیو هیوادونو د لیدلو او په نوره نړۍ د خپل هیواد د پېژندلو او خپل هیواد ته د ګټورو پروژو د راوړلو لپاره د ۱۹۲۷ کال د ډسمبر په میاشت کي په داسي حال کي سفر پیل کړ چي د هیواد په ښېلو ښېلو، په تېره بیا مشرقي، کي د اصلاحاتو د پروګرام سره د مخالفتونو او په شمالي سیمو کي د څرګند بغاوت نښني لیدلي کېدلي او د شوربازار حضرتانو او محافظه کارو دیني عالمانو د هغه پر ضد پټي دسیسي رواني کړي وې. امان الله خان له دې نسبتا اوږده سفر څخه تقریبا اووه میاشتي وروسته هیواد ته ستون سو. امان الله خان خپل د اصلاحاتو پروګرام ته ځکه زور ورکړ چي هغه د خپل وطن له ترقی او پرمختګ سره بې کچه او لېونی مینه درلوده. هغه د اکتوبر پر پنځمه د لویی جرګي څلورمي غونډي ته په وینا کي وویل« زه انقلابي پاچا یم، او آرزو مي دا ده چي د هیواد

د ژوند په هره برخه کي انقلاب راولم. هر څوک چي زما سره همکاری کولو ته تیار نه دی استعفی دي وکړي. په مجلس کي یوازي عبدالرحمن لودین پورته سو او خپله استعفی یي وړاندي کړه » آدمک ص ۱۳۷

خان عبدالغفار خان په پېښور کي د پښتنو يوې غونډي ته وويل « انقلاب د سېلاب په څېر دی. له هغه څخه ځيني قومونه ګټه اخلي او ځيني پکښي ډوب سي. هغه ملتونه چي ويښ دي؛ د ورور والي، دوستی او په ملي روحيه کار کوي، هغه له انقلاب څخه ګټه پورته کوی. هغه ملت چي دا خصوصيات نه لري د سېل اوبه يي له ځان سره وړي.... ما اورېدلي دي چي امان الله خان به ويل زه د پښتنو انقلابي پاچا يم. په حقيقت کي هغه په موږ کي انقلابي روحيه ايجاد کړه. بې له شکه موږ د هغه له انقلاب څخه تر افغانانو زياته ګټه واخيستله. ځکه چي افغانان ويده ول او موږ ويښ وو...» تندلکار ص ۵۸

ويده ملت د امان الله خان د اصلاحاتو او وطن پالني په چيغو را ويښ نه سو بلکه د ملت د داخلي او بهرني دښمنانو تبليغاتو ته يي غوږ ونيوی. د هيواد په هره برخه کي اوربل سو. وطن سره تبې سو. امان الله خان نه د روغي جوړي د خبرو لپاره لايق او صادق ملګري درلودل او نه يي داسي غښتلی پوځ درلود چي د جنګ په ميدانونو کي دفاع ورڅخه وکړي. امان الله خان د شينوارو، مومندو او ورسره قبايلو د بنوربښ د ځپلو لپاره، چي په وروستيو شپو کي يي ډېر زور اخيستی وو او د حکومت د جبه خانو د لوټلو له لاري يي په زرهاوو توپک او توپونه تر لاسه کړي او د ياغي جنګياليو شمېر يي څلوېښتو زرو تنو ته رسېدی، له هري وسيلي څخه کار واخيست. هغه په کابل کي د شوروي سفارت له پوځي آتشه څخه د ۱۹۲۸ کال د نومبر پر نهه ويشتمه وغوښتل چي شوروی اتحاد دي په عاجله توګه دوولس سوه خوشه اي بمونه، دوولس سوه اوراچونکي بمونه او شپږ سوه کيمياوي بمونه ورباندي وپلوري. د روسيي د کمونيسټ ګوند د مرکزي کمېټي سياسي دفتر د ډسمبر پر دريمه فيصله وکړه چي پر افغانستان دي دوه زره څلور سوه خوشه اي او اور اچوونکي بمونه وپلورل سي ، البته د کيمياوي بمونو له ورکولو څخه يي معذرت وغوښت. تيخانوف ص ۲۰۱

دا وخت اوبه تر ورخ اوښتي وې. يوازي د شينوارو بنوربښ نه وو چي حکومت يي کمزوری او بېچاره کړی وو؛ بلکه په شمال کي د حبيب الله کلکاني بنوربښ دونه زور اخيستی وو چي په لږو شپو کي، کابل ته څرمه، د خيرخانې کوتل ته ورسېدي .

اعليحضرت امان الله خان نور په ځان کي د مقاومت کولو توان ونه ليدی او بالاخره يې، د ۱۹۲۹ کال د جنوري پر څوارلسمه، استعفی وکړه او مخ پر کندهار رهي سو. د کابل تخت يې خپل مشر ورور عنايت الله خان ته وسپاره. عنايت الله خان هم درې ورځي وروسته د جنوري پر اووه لسمه استعفی وکړه او په کندهار کي له خپل ورور سره يو ځای سو. کابل د سقاوي داړه مارانو د قدرت ميدان سو.

د امان الله خان په مقابل کي د بنوربښونو د زور اخيستلو او ستونزو د زياتېدلو او له قدرت څخه د هغه د استعفی کولو څخه وروسته هم ده پخپله او هم د ده طرفدارانو د ستونزو او بنوربښونو پړه د برتانيي پر امپراطوري اچوله او ويل به يي چي دا ټولي ستونزي د هغوی د دسيسو محصول دي. په داسي حال کي چي د شوروي اتحاد مورخين وايی چي په دې برخه کي يي حتی د مستقل هند په آرشيفونو کي هم داسي سند نه دی ترلاسه کړی چي دا وښيی چي د امان الله خان د سقوط علت د انګليسي استخباراتو د توطيو نتيجه وي. مګر دا منابع وايي چي انګرېزانو په

بشپړه خوښي د دې اصلاحات غوښتونکي پاچا د نسکورېدلو ننداره کوله او له هغه سره يې مرسته ونه کړه. هغه کتاب ص ۲۰۳

په دې کي هيڅ شک نسته چي انګرېزان به د امان الله خان په سقوط خوشاله ول؛ ځکه چي اعليحضرت امان الله خان، د قدرت څخه مخکي او د قدرت په دوران کي، نه له انګرېزانو سره دښمني او نه له روسانو سره دوستي پټوله. هغه د ژوند تر پايه پوري د انګرېزانو دښمن پاته سو او حتی که يې د هند له آزادي غوښتونکو سره مرستي نه وي کړي نو لږترلږه په تبليغاتو کي يې د هغوی ملاتړ کاوه. د امان الله خان معاصر انګرېز منصبدار او مورخ آرتر سوينسن خپله خوښي نه پټوي او ليکي:

»برتانيه د امان الله خان په نسکورېدلو د زړه له کومي خوشاله وه؛ ځکه چي هغه له ډېره وخته د انګرېزانو د سترګو اغزی وو. هغه د انګرېزانو د فارورډ( پر مخ تللو) پاليسی څخه کرکه کوله او قبايل يې لمسول. په ۱۹۲۳ کال کي خبره دې حال ته ورسېده چي وايسرا له افغانستان سره د ډيپلوماتيکو اړېکو د شلولو ګواښ وکړ. په وروسته کال اوضاع يو څڅه کراره سوه ځکه چي د امان الله خان د ښځو د تعليم او تربيي پروګرام له داسي ستونزو سره مخامخ سو چي نيژدې وو له قدرته وپرزول سي. په ۱۹۲۴ کال کي په خوست کي د ډېر سخت ښورښ سره مخامخ سو؛ او لمن يي د کابا تر جنوب پوري ورسېده او د ده قدرت يې سخت کمزوری کړ. مګر هغه د خپلو توندو اصلاحاتو له پروګرام څخه وانه ړاوه او نتيجه دا سوه چي په ۱۹۲۸ کال کي حبيب الله ښورښ وکړ. امان الله د جنوري پر پنځمه په ډېر تلوار خپل اصلاخات لغو کړل مګر هغه وخت هيڅ نه کېدل او ډېر ناوخته وو. امان الله خان په لسو ورځو کي قدرت خپل ورور ته، چي زړه نا زړه وو، وسپاره او کندهار ته وتښتېدی. د مارچ په مياشت کي نادرخان ( د برتانيي له هر ډول مرستي پرته) د افغانستان خاوري ته ننووت؛ او تر ډېر ځنډ او شکستونو وروسته کابل ته ورسېدی. هغه د اکتوبر پر شپاړسمه د نادرشاه په نوم پاچا سو.

که څه هم چي برتانيي په ډېر احتياط، حتی د نامعقوليت تر پولي پوري بې طرفي وساتله او په وضع کي يې له مداخلي کولو څخه ځان وژغوره، مګر کارونه بالاخره لکه دوی چي غوښتل هغسي پای ته ورسېدل. نادرخان يو ښه عسکر او غښتلی سړی وو او ډېر ژر يې په هيواد کی ثبات ټينګ کړ. هغه د قبايلو په سيمه کي،لکه څرنګه چي تمه کېدله، هغسي دوستانه پاليسي اختيار کړه. او تر دې لا مهمه وه چي د شوروي اتحاد څخه يې مخ واړاوه. شوروي اتحاد له ۱۹۲۶ کال څخه وروسته په څرګنده په هند کي د برتانيي د قدرت د پرزولو او له هند څخه د برتانيي د ايستلو لپاره فعاليت کاوه. نادرشاه خپلو ستونزو مايوسه نه کړ او تر ۱۹۳۰ کال پوري هر څه پر لار سوه. د روسيي څخه وېره ختمه سوه، په کابل کي کراري سوه او په سرحد کي آرامي منځته راغله» سوينسن ص ص ۳۰۷-۳۰۸

# د کابل د تخت لپاره هلي ځلي:

د حبيب الله کلکاني او انډيوالانو له خوا د کابل د اشغال سره سم د تخت د نيولو لپاره له بېلو بېلو خواوو هلي ځلي پيل سوې. کابل د تقريبا نهو مياشتو لپاره يوه ورځ او شپه ارامه ونه ليده؛ او داسي ورځ نه وه چي د کابل څخه په ليري او نيژدې سيمو کي واړه او لوی جنګونه نه وي سوي. پخپله کابل د ډېرو بدو پيښو شاهد وو.

فيض محمد کاتب، چي د هغه وخت د ټولو بدمرغو پيښو شاهد دی په خپل کتاب تذکر الانقلاب کي ليکي:

«بچه سقاو او سيد حسين دواړو په ظاهره د اسلام او ديندارۍ لاپي کولې خو په عمل کي يې داسي کارونه کول چي په هيڅ شرع کي روانه دي. هره ورځ به يې جار واهه چي دوکانونه پرانيزی او که څوک د چا له دوکانه شی واخلي حکومت به هغه په ګولی وولي. مګر په عمل کي د بچه سقاو عسکرو او افسرانو د خلکو له دوکانونو څخه مالونه اخيستل او په توبرو کي به يې وړل. دغه راز، د توپکو او وسلو د پلټلو او پيدا کولو په پلمه، د خلکو کورونو ته ننوتل او نقد او جنس يې چوروَل» تذکرالانقلاب ص ۸۴

د دې بدمرغو پيښو بل عيني شاهد پروفيسر محمدعلي ليکي:

«په هغو نهو مياشتو کي چي واک د دې ډلي په لاس کي وو، پر کابل باندي داسي وحشت تېر سو چي کيسي يې د کولو نه دي. د کابل بېچاره ښاريان د دې وحشت لومړني قربانيان ول. ارګ د دې وحشيانه استبداد مرکز وو، چي هر ډول عدالت او بشري قانون يې تر پښو لاندي کاوه؛ او قدرت يې نه د خدای او نه د خلکو په زور اخيستی وو، بلکه د توري په زور يې نيولی وو.

ښوونځي او ټول ګټور موسسات وتړل سول. کتابخاني، لابراتوارونه او شاهي موزيم چور سول او نادر کتابونه يا وسوځول سول او يا په ډېر نازل قيمت خرڅ سول. يوه سړي په يوه غيران دونه کتابونه رانيولای سوای چي وړلای يې نه سوای» محمدعلي  ص ۴۳

کابل پوره نهه مياشتي د داسي جنايتونو ميدان وو چي په خپل تاريخ کي يې نه وه ليدلي. د حبيب الله کلکاني کشر ورور حميدالله، چي له سقاو څخه وروسته يې تام اختيارات په لاس کي ول، د کابل والي ملک محسن او د سقاو صدراعظم سيد حسين، چي ويل کېږي په دريو مياشتو کي يې په خپل حرم کي څه باندي څلوېښت ښځي غونډي کړي وې؛ او په نامه کړو يا نامزدو ښځو حساب يې لا چاته معلوم نه وو، تر ټولو زيات په جنايتونو کي برخه درلوده. مجددي ص ۴۴۶ په دې باب زيات تفصيل موږ له موضوع څخه ليري کوي.

علي احمد خان، چي امان الله خان د شينوارو، خوګيانيو او نورو پښتنو د ښورښ د کرارولو او له خلکو سره د روغي جوړي د خبرو کولو لپاره مشرقي ته لېږلی وو، ميدان خالي وليدی او ځان يې پاچا اعلان کړ او د خلکو څخه د بيعت اخيستلو په کار لګيا سو. محمدګل خان او سيد حسن کنډکمشر چي د علي احمدخان له دې عمل سره مخالفت وښود او هغه ته يې د وطن د نجات او ژغورلو توصيه کوله، دواړه وډبول او پر کابل باندي يې د حملي تياری پيل کړ. د علي احمد خان په پوځ کي دوه لوی ملکان محمدشاه خان او ملک محمدجان له يوه بل سره سخت مخالف ول او پر کابل باندي د حملي د پيل کولو څخه مخکي يې په خپلو کي سره وويشتل او دواړه مړه سول. په دې توګه پر کابل باندي د علي احمدخان يرغل او پوځي عمليات وځنډېدل. انيس ص ۹۹

علي احمد خان د جلال آباد له حکومتي خزاني څخه لاسته راوړي پیسي او هغه پیسي چي امان الله خان په مشرقي کي د سولي د ټیګولو لپاره ورکړي وې ډېري ژر ولګولې او کله چي پوه سو چي هیڅ کار یې پر مخ نه ځي نو له انګرېزانو څخه یې د دونه زیاتو مرستو غوښتنه وکړه چي که د افغانستان پاچا وای هم به یې نه وای ترلاسه کړي.

»علي احمد خان د فبروري پر دریمه پېښور ته یو لیک واستاوه چي په الوتکه کي په کابل کي د انګرېزانو سفیر فرانسیس همفریس ته ورسېږي. هغه له همفریس څخه غوښتي وه چي د برټانیې حکومت دي یو میلیون سټرلینګ پونډه، سل لاری موټرونه، چي له هر موټر سره به یو موټروان او دوه میخانیکان ملګري وي،دوه زره خېمې، د دوو زرو کسانو لپاره یونیفورمونه او بالاپوښونه،شل زره توپکونه او شل میلیونه مرمی، دېرش غرني توپونه او له هر توپ سره زر ګولی،زر ځین کړي آسونه، دوولس بې سیم ټلفونونه له پرسونل سره، په ماشین ګنو سمبالي، یو شمېر پوځی الوتکي، لویې مسافر وړونکي الوتکي له برټانوي پیلوټانو او اتیازرو ګېلنو تېلو او د سون موادو سره. علي احمد خان لیکلي وه چي لکه څرنګه چي ما یې پېش بیني درته کړې وه امان الله ثابته کړه چي هغه د پاچهي لایق نه وو. بچه سقاو یو داړه مار دی بل څه نه دی. پر کابل باندي به ډېر ژر له هري خوا حملې پیل سي. بلشویکان غواړي په افغانستان کي داسي جمهوریت منځته راوړي چي ډېر ژر به هیواد تباه کړي. دوی د هغه خوسا سوي منې مثال لري چي ټول بار خرابوي. ده ځان د برټانیې د حکومت زوړ دوست معرفي کړی وو او لیکلي یې وه چي برټانیه باید له غرور څخه کار وانه خلي او دا فرصت له لاسه ورنه کړي» ستیوارټ ص ص ۹۸-۴۹۷

داچي علي احمدخان ولي له انګرېزانو څخه دونه زیاتي غوښتني کړي وې او په داسي وخت کي یې، چي تقریبا هیڅ یې په لاس کي نه لرل، څرنګه پر انګرېزانو باندي دونه زیات حساب کړی وو، سړی څه نه سي ویلای خو لکه څرنګه چي انتظار یې ایستل کېدی، همفریس د ده لیک ته جواب قدر هم ور نه کړ. خوګیاني ملک قیس، چي د علي احمدخان ټینګ ملګری وو، له سقاو سره پټ تماس ونیوی او هغه ته یې د علي احمد خان د نیولو وعده ورکړه. بچه سقاو هم له ملک قیس سره د اووه لسو زرو روپیو او نایب سالاری ژمنه وکړه. د قبایلو خانانو او ملکانو له علي احمدخان سره خیانت وکړ. پر هغه باندي یې حمله وکړه؛ د هغه درې سوه د توري قبیلې محافظین یې ټول ووژل؛ او علي احمد خان ایله په تېښته بریالی سو او په یوه جوړه جامو کي پیاده پېښور ته ورسېدی.

## د شوروي اتحاد پوځي مداخله او غلام نبي خان چرخي:

انګرېزانو د افغانستان د بحران او داخلي جنګونو په جریان کي لږترلږه ظاهري بېطرفي وساتله؛ او چي هر چا به د مرستي خواست ورته وکړ نو دوی به خپله بېطرفي پلمه کوله. له پاچهی څخه د استعفی کولو او کندهار ته له تللو سره، د اعلیحضرت امان الله خان قانوني او مشروع دریځ ډېر کمزوری سو. نور نو هغه ته چا د یوه قانوني پاچا په حیث نه بلکه د کابل د تخت د نیولو د یوه دعوا ګیر په سترګه کتل. کله چي هغه له کندهار څخه له انګرېزانو څخه د وسلو غوښتنه وکړه؛ انګرېزانو حتی په نغدو پیسو د وسلو له ورکولو څخه ډډه وکړه. انګرېزانو هغه ته په ډېره سړه لهجه جواب ورکړ چي دوی د هغه د استعفي بیرته اخیستل په رسمیت نه پېژني او هغه ته د کابل د تخت

د یوه بل دعواګیر په سترګه ګوري. او د برتانیي د بې طرفی پالیسي هغوی ته اجازه نه ورکوي چي د افغانستان په داخلي جنګونوکي لاس وهنه وکړي. پولادا ص ۲۵۹

خو شوروي اتحاد، که څه هم غوښتل چي له امان الله خان سره پټي مرستي وکړي، برالا نظامي مداخله وکړه. د شوروي اتحاد د کمونیستې ګوند د مرکزي کمېټي سیاسی دفتر د مارچ پر شلمه فیصله وکړه چي قدرت ته د امان الله خان د بیرته رسولو لپاره به د افغاني قواوو سره ګډ پوځي عملیات کوي. که څه هم چي د شوروي اتحاد منابع وایی چي دا مرستي وړیا نه وې بلکه افغانستان باید، په بدل کي، شوروي اتحاد ته پنبه، څرمن، وړی او نور ارښتناک مواد ورکړي وای. ولادیمیر بویکو ص ص ۱۷۸-۷۹

د کمونیستې ګوند د سیاسي دفتر په هغه غونډه کي ستالین، جنرال غلام نبي خان چرخي او په کابل کي د شوروي د سفارت نظامي آتشه پریماکوف برخه درلوده او فیصله وسوه چي د شوروي د سره پوځ عسکر دي په افغاني جامو کي د غلام نبي خان تر قوماندې لاندي حرکت وکړي او د مزار شریف ښار دي ونیسی. له دې څخه څو هفتې وروسته د شوروي جنګي الوتکو د افغانستان پر خاوره باندي یرغل وکړ او هغه عسکر یې ټول له منځه یووړل چي پر الوتکو یې ډزي کړي وکړې. په دې عملیاتو کي تقریبا دوه زره افغانان ووژل سول. د مزار شریف ښار ونیول سو او د غلام نبي خان تر قوماندې لاندي شوروي او افغاني قواوو د تاشقرغان پر لور حرکت وکړ. په دې ښار کي هم د بچه سقاو پوځ ډېر ژر ماته وکړه او تقریبا درې زره تنه یې ووژل سول، او غلام نبي خان د خان آباد پر لور حرکت وکړ. د عملیاتو په جریان کي هغه ته خبر ورسېدی چي امان الله خان له مقاومته لاس اخیستی او له هیواده وتلی دی. غلام نبي خان هم له خپلو قواوو سره پر شا سو او بیرته د شوروي اتحاد خاوري ته ننووت. د شوروي د قواوو د پر شا کېدلو یو علت دا هم کېنل کېږي چي په بهر نیو هیوادونو او اروپا کي په افغانستان کي د شوروي د پوځي مداخلي رپوټونه خپاره سول او شوروي مجبور سو چي ډېر ژر میدان خوشي کړي. آقابکوف ص ص ۲۰۴-۵

شوروي محقق تیخانوف لیکي: نور نو بچه سقاو او انګرېزانو کولای سوای چي د خپل بري جشن ونیسي او شورویان مجبور ول چي واقعیت ومني.

له افغانستان څخه د امان الله خان له تېښتېدلو سره په مزار شریف کي د غلام نبي خان چرخي د قواوو عملیات بې مفهومه سول. د ۱۹۲۹ کال د مې په وروستیو شپو ورځو کي دا قواوي بیرته شوروي ته وغوښتلي سوې. دا د هیچا پر زړه برابر کار نه وو. د شوروي اتحاد د مرکزي اسیا پوځي قوماندانی په خپل اطلاعاتي رپوټ کي ولیکل چي امان الله خان چي ښورښي قبایلو محاصره کړی وو، سره له هغه چي سیاسي وضع او تر یوه ځایه په شمال کي پوځي وضع د هغه په ګټه وه، هند ته وتښتېدی .

تیخانوف وروسته لیکي خارجه وزیر چیچیرین تر دې هم سپیني خبري کولي او د ۱۹۲۹ کال د جون په میاشت کي یې ستالین ته ولیکل چي د حکومت د ځینو کسانو د قومي تنګ نظریو له امله، شوروي دا تاریخي فرصت له لاسه ورکړ، څو د شورا ګانو د هیواد او برتانوي امپراطوری تر منځ خپل دریځ ټینګ کړي. هغه د امان الله خان د تلاښونو د وروستی ناکامی په باب، په ډېره غمګینه لهجه، لیکي چي د سترګو په رپ کي هرڅه برباد سول. آخ تاریخ (د دې قمار پر میدان، جهاني) موږ ته څه قوي پر په لاس راکړی وو. تیخانوف ص ۲۲۲

د سقاو حکومت، د شمال په جنګونو کې، پر غلام نبي خان باندې د دې ناڅاپي برې څخه وروسته، چې ښایی چنداني انتظار به یې هم نه درلود، په کابل کې د شوروي شارژدافیر ور وغوښت او له هغه څخه یې د افغانستان په شمال کې د شوروي پوځیانو او الوتکو د مستقیمي مداخلې په باره کې توضیحات وغوښتل خو د شوروي ډیپلوماټ نه یوازې په افغانستان کې پر هر ډول مداخلې باندې منکر سو بلکه افغانستان یې د شوروي په خاوره کې د باسماچیانو په ملاتړ کولو تورن کړ او ضمناً یې د کابل حکومت ته په منتهی سپین سترګي یو یادداشت هم ور وسپاره. په یادداشت کې راغلي وه:

شوروي حکومت ته نه د هغه هیواد له پولو څخه د غلام نبي خان د تېرېدلو او نه د وسلو د ترلاسه کولو د سرچینې په باب معلومات سته. شوروي حکومت په قاطعانه ډول اعلان کوي چې د افغانستان د داخلي جنګ په جریان کې یې هیڅ الوتکه د کابل د حکومت له اجازې پرته د افغانستان فضا ته داخله سوې نه ده.

د شوروي حکومت د ۱۹۲۱ کال او دغه راز په پغمان کې د ۱۹۲۶ کال د تړون په اساس د افغانستان په داخلي چارو کې له هر ډول مداخلې څخه ډډه کوي او د افغانستان د استقلال درناوی کوي. بویکو ص ۱۹۷

په زړه پوري خبره دا ده چې د شوروي اتحاد خارجه وزارت د ۱۹۲۹ کال د جون پر دریمه، په یوه غونډه کې، فیصله وکړه چې په کابل کې خپل شارژدافیر ته یادداشت ولېږي او د سقاو د زوی حکومت ته د افغانستان په چارو کې زموږ د مداخلې نه کولو په برخه کې اطمینان ورکړي او دا ورته ووایی چې په افغانستان کې د استحکام او د حکومت د واک له غځېدلو سره ښایي شوروي اتحاد د کابل حکومت هم په رسمیت وپېژني. هغه کتاب ص ۱۹۸

د افغانستان تاریخ د غم لړلو پېښنو یو اوږد داستان دی؛ خو د امان الله خان سقوط او د هیواد څخه د هغه وتل ښایي د افغانستان له تر ټولو لویو ویرژلو پېښنو څخه وي. د امان الله خان له سقوط سره افغانستان داسي یو وطن پالونکی او پر ترقی او استقلال مین پاچا له لاسه ورکړ چې په خپل تاریخ کې به یې د هغه په څېر مشران ډېر لږ لیدلي وي. د امان الله خان له سقوط سره په افغانستان کې سقاوي دوره راغله او کابل او ټول هیواد داسي پېښي ولیدلي چې په تاریخ کې یې نه وې لیدلي. د سقاوي نظام په دوره کې د زرهاوو بېګناه انسانانو سرونه ورغړېدل او سر، مال او ناموس د مصونیت مفهوم له لاسه ورکړ. د سقاوي نظام له سقوط څخه وروسته د نادرخان په پاچهي او د هاشم خان د صدارت په وخت کې د امان الله خان او د هغه د طرفدارانو او د نادرخان د کورنۍ تر منځ په سیاسي کشمکش کې په سل هاوو داسي کسان د بندیخانو شومه سول چې د هیواد لپاره یې جبران ممکن نه وو او هر یو یې د « سل دې ومره یو دې مه مره» په کتار کې وو.

## محمد نادر خان:

نادرخان په افغانستان کې د اعلیحضرت امان الله خان د استعفی او د سقاویانو د قدرت نیولو د خبرونو د اورېدلو سره سم له فرانسې څخه د هند پر لور حرکت وکړ. په فرانسه کې د برتانیې سفیر، په دې پلمه چې برتانیه د افغانستان په روان بحران کې مطلقه بیطرفي ساتي، د برتانوي هند له لارې ، افغانستان د تېرېدلو لپاره، نادرخان او د هغه ورونو سردار محمدهاشم خان او شاه ولي خان ته له ویزې ورکولو څخه ډډه وکړه؛ او یوازې هغه وخت

یې موافقه وکړه چې محمدهاشم خان له بلې لارې، چې احتمال لري مطلب به یې شوروي اتحاد وو، افغانستان ته د داخلېدلو ګواښ وکړ. شاه ولي خان ص ص ۳۴-۳۵

نادرخان له فرانسې څخه په داسې وخت کې، چې سخت ناروغ وو، حرکت وکړ. هغه په لار کې حتی داسې ناروغ سو او تبې یې دونه زور ورباندې وکړ چې محمدهاشم خان او شاه ولي خان یې په کبنتی کې خپلې کوټې ته وبلل او هغوی ته یې وویل چې نور د ژوند امید ورته پاته نه دی او که چېرې مړ سو نو د پورټ سعید په بندر کې دې ، چې د مسلمانانو خاوره ده، ښخ کړل سي. هغه شاه ولي خان او هاشم خان ته وصیت وکړ چې د ده د مړیني په صورت کې د افغانستاان د ژغورنې او نجات ماموریت ته دوام ورکړي. البته د هغې شپې په سبا یې روغتیایی حالت یو څه ښه سو او سفر ته یې دوام وکړ. هغه کتاب ص ۳۷

نادرخان نه په لاس کې پیسې درلودلې او نه یې لښکردرلودی، ځکه یې نو باید له لومړۍ ورځې څخه هر ګام په احتیاط اخیستی وای. هغه د امان الله خان د طرفدارانو او په تېره بیا په هند کې د آزادي غوښتونکو په مخ کې، چې زیاتره د امان الله خان طرفداران ول، ځان د امان الله خان طرفدار ښودی او ویل به یې چې غواړي هغه بېرته قدرت ته ورسوي. حتی غلام صدیق خان چرخي له هغه سره څلور زره طلایي سټرلینګ پونډه مرسته وکړه او وروسته یې ډېر ارمان کاوه. او ویل به یې چې له هغو پیسو څخه نادرخان ته دوه زره سټرلینګ پونډه رسېدلې ول او هغه په یوه لیک کې مننه ورڅخه کړې وه. صدیق خان به ویل چې له نادرخان سره نورو کسانو هم مرستې وکړې؛ خو کله چې هغه د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر په میاشت کې کابل ونیوی ځان یې پخپله پاچا اعلان کړ او د امان الله خان طرفدران یې له منځه یوړل. تیخانوف ص۲۲۴

نادرخان له فرانسې څخه د حرکت په ورځ خبریالانو ته ویلې وه چې د کابل د فتح کولو په صورت کې، د تاج او تخت او قدرت ته د امان الله خان د بېرته رسولو په مسله کې ځان ته د مداخلې حق نه ورکوي، بلکه دا حق ملت ته سپاري. هغه کتاب ص ۲۲۵

نادرخان د ۱۹۲۹ کال د مې پر دیرویشتمه پېښور ته ورسېدی. هغه په پېښور کې، د اوضاع له تحلیلولو څخه وروسته، د امان الله خان ملاتړ اعلان کړ او د قبایلو مشرانو ته یې، چې د ده لیدلو ته ورغلي ول، په څرګنده، اعلان وکړ چې د سقاو د زوی د نسکورولو او د امان الله خان د پاچاکولو لپاره به خپل ټول وس تمام کړي.

نادرخان دغه راز د پښتنو د مشر خان عبدالغفار خان سره په خبرو کې د امان الله خان ملاتړ اعلان کړ او ورته وې ویل چې ټولې هلې ځلې یې د امان الله خان لپاره دي. هغه کتاب ص ۲۲۵ عبدالولي خان ص ص ۸۹-۹۰

کله چې نادرخان له انګرېزانو سره کتل، یا یې د غلجیو قبایلو له مشرانو سره، چې اکثریت یې د امان الله خان په مخالفت را ولاړ سوي ول، خبرې کولې او یا یې له مذهبي او روحاني مشرانو سره لیدني کتنې کولې هغوی ته یې د امان الله خان پر ضد دریځ څرګنداوه. حتی ویل کېږي چې په خوست کې یې د ځینو قبایلي مشرانو په مخ کې سوګند یاد کړ چې د امان الله خان د بېرته پاچا کولو لپاره کار نه کوي. ټیټلرص ۲۲۲

نادرخان، د کابل د تخت د نیولو لپاره په هلوځلو کې، تر ټولو کسانو ځلېدونکی ستوری وو او هرې خوا کوښښ کاوه چې هغه له ځان سره ملګری کړي. حبیب الله کلکاني هغه ته فرانسې ته دوه تنه ور ولېږل چې کابل ته یې

راولي او په حکومت کي يو لوی مقام واخلي.امان الله خان هم نادرخان ته احوال ليږلی او هغه ته يې ويلي وه چي کندهار ته ورسی او له ده سره يو ځای سي. پېښور ته د امان الله خان د هيات د رسېدلو څخه مخکي، نادرخان په کابل کي د انګرېزانو له سفير فرانسيس همفريس سره، چي له پخوا يې ورسره پېژندل، وکتل او د افغانستان د روانو حالاتو په باب يې د هغه نظر وغوښت. همفريس په زغرده ورته وويل چي برتانيه به د افغانستان په چارو کي خپله بېطرفي وساتي، او د افغانانو له مجبوريت او بدي ورځي څخه به ګټه پورته نه کړي. هغه بالاخره ورته وويل چي په افغانستان کي چي هر څوک قدرت ته ورسېږي، که امان الله خان وي که بل څوک، برتانيه به له هغه سره دوستي او مرستي کوي.

يوه ورځ وروسته علي احمدخان له نادرخان سره وکتل او له هغه څخه يې وغوښتل چي يا خو د هغه سره د پاچهي په نيولو کي مرسته وکړي او يا خپل ځان پاچا اعلان کړي او دی به مرسته ورسره وکړي. نادرخان يو پېشنهاد هم منظور نه کړ او علي احمدخان ته يې وويل چي اوس حاضر هغه د افغانستان د ژغورني لپاره کار کوي؛ د پاچا او امير ټاکل د ملت او اولس کار دی.

د برتانوي هند حکومت بالاخره نادرخان ته احوال ورکړ چي نور بايد ډېر ژر د هند له خاوري څخه افغانستان ته ننوزي. نادر خان د کرم پر لور حرکت وکړ او له هغه ځايه د پکتيا ولايت ته ننووت. خپل ورور سردار هاشم خان يې مشرقي ته واستاوه څو د پښتنو مشرقي قبايل د سقاو پر ضد جګړي ته وهڅوي. ستيوارټ ص ص ۵۲۰-۵۲۲

د برتانيي حکم ډېر ساده وو؛ کله چي نادر خان او د هغه ورونه د برتانوي هند له پولي واوړي، بيرته د برتانوي هند خاوري ته نه سي را اوښتلای او که را واوړي د برتانيي حکومت يې نيسي. د برتانيي حکومت دغه راز نادرخان او د هغه ورونو ته اجازه ورنه کړه چي په صوبه سرحد کي له پښتني قبايلو څخه لښکر جوړ کړي. کله چي سردارهاشم خان په مشرقي کي ماته وکړه او د برتانوي هند خاوري ته واوښت نو د برتانيي مقاماتو هغه ونيوی او د کوټي ښار ته يې واستاوه. دوپرې ص ص ۴۵۸-۵۹

نادرخان درې ځله کوښښ وکړ چي د لوګر له لاري پر کابل باندي حمله وکړي او درې ځله ناکام سو او د ګرديز ښار يې هم له لاسه ورکړ. نادر خان د برتانيي له حکومت څخه وغوښتل چي هغه ته په ازادو قبايلو کي د لښکر جوړولو اجازه ورکړي؛ خو برتانيي اجازه ورنه کړه؛ او نادرخان بالاخره انګرېزانو ته وليکل چي هغه د آزادو قبائليو له مرستي پرته کابل نه سي نيولای. که انګرېزان د وزيرو او مسعودو قبايلو ته له سرحد څخه د تېرېدلو او له ده سره د مرستي کولو اجازه نه ورکوي نو بيا به دی مجبور وي چي د جنګ ميدان پرېږدي او په هغه صورت کي به په افغانستان کي يوه لويه ګډوډی را منځته سي. انګرېزانو بيا هم په رسمي توګه خپله بې طرفي وساتله او په ضمن کي يې په قبايلي سيمو کي خپلو مامورينو ته هدايت ورکړ چي که د قبايلو خلک د افرادو په توګه افغانستان ته داخلېږي نو غرض مه ورسره کوی او که چيري د بشپړ لښکر په توګه د افغانستان خاوري ته تېرېدل نو هم له قوي څخه کار مه اخلی ځکه چي په هغه صورت کي به داسي وضع منځته راسي چي د بېطرفی تر پرېښودلو به يې عواقب خراب وي. د انګرېزي مقاماتو د دې امر او هدايت خبره ډېر ژر په قبايلو کي تيته سوه او په زرهاوو وزير او محسود د نادرخان مرستي ته ورمات سول. نادرخان ،په همدغه لښکر ، د اکتوبر پر څوارلسمه کابل ونيوی او د اکتوبر پر پنځه لسمه يې خپله پاچهي اعلان کړه. پولادا ص ص ۱۹۰-۱۹۱

که د شوروي استخباراتو رپوټونه ومنو چې وايي له نادرخان سره یوازي شپېته زره وزیر او تقریبا دېرش زره محسود، چې ټول په وسلو سمبال ول، ملګري سول، تیخانوف ص ۲۲۸ نو د دونه زیاتو قواوو په مقابل کي د سقاو لپاره مقاومت کول غیر ممکن کار وو .

## د اعلیحضرت محمد نادرشاه د قدرت کلونه:

نادرشاه د خپل قدرت په لنډه، څلورکلنه، دوره کي د دونه زیاتو سیاسي ستونزو سره مخامخ سو چې د افغانستان په تاریخ کي به لږ سیاسي مشران ورسره مخامخ سوي او بریالي ورڅخه وتلي وي. خو په دې لنډه او له ستونزو څخه ډکه دوره کي یې، لکه څرنګه چې د خپلي پاچهی د اعلانولو په لومړی ورځ ژمنه کړې وه، د ژورو اصلاحاتو د راوستلو له پروګرام څخه مخ وا نه ړاوه او په حقیقت کي یې د امان الله خان د دورې تقریبا ټول اصلاحات، خو یو څه په تدریجي ډول، تعقیب کړل. نادرشاه د خپلي پاچهی د اعلانولوپه ورځ په هغه لنډه اعلامیه کي، چې سنځل نوید د اصلاح د ورځپاڼي په حواله را نقل کړې ده، ښودلې ده چې هغه غواړي، په افغانستان کي،د نړۍ د نورو متمدنو هیوادونو د معیارونو سره سم، اصلاحات راولي .

نادرشاه په خپله لومړنی اعلامیه کي وویل « اوس چې خدای تعالی د افغانستان ملت د اغتشاش له اور څخه ژغورلی دی او د افغانستان ملت زه د پاچا په حیث انتخاب کړی یم؛ هیله لرم چې وروسته له دې به افغانستان د یوه مترقي او د اسلام اصولو ته د وفادار هیواد په حیث پاته سي. په اوس حالت کي هیواد تر بل هر وخت یوې صحیح اداري ته اړتیا لري. د حکومتي ځانګو آمرین باید د ملت په مقابل کي خپل مسولیتونه درک کړي، څو لازم اصلاحات په اسانی او بې له اخلاله عملي سي. ځکه نو د اسلام د سپېڅلي دین له احکامو او دغه راز د هغو اصولو سره سم چې د نړۍ په متمدنو هیوادونو کي عملي کېږي لازمه بولم چې یو صدراعظم وټاکم او د کابینې د جوړولو وظیفه ورکړم. سنځل ص ۲۳۷

نادرشاه د قدرت د نیولو له لومړۍ ورځې څخه د وژل کېدلو تر شپې پوري خپلو سیاسي مخالفینو بې غمه پرې نه ښود کنه نو هغه به د خپلو ملي آرمانونو د پوره کولو لپاره لا هم ډېر څه کړي وای.

حبیب الله کلکاني د ارګ د سقوط په وخت کي د شمالي دروازې د لاري وتښتېدی او ځان یې چاریکار ته ورساوه. هغه او سید حسین غوښتل چې له هغه ځایه مقاومت پیل کړي او که د کابل تخت ونه نیسي نو لږترلږه د نادرخان سره جنګ او جنجال ته دوام ورکړي. نادرخان نه غوښتل، او ښایی کولای یې هم نه سوای، چې د خپلي پاچهی په لومړۍ ورځ یو بل جنګ پیل کړي نو ځکه یې د دیني عالمانو او قومي مشرانو یوه جرګه حبیب الله ته ولېږله او له هغه سره یې ژمنه وکړه چې که حکومت ته تسلیم سي نو دی او د ده ملګري به ټول عفو سي. حبیب الله هم خپل ځان تسلیم کړ. نادرشاه له هغه سره په لومړي سر کي ښه سلوک وکړ خو وروسته یې هغو کسانو ته تسلیم کړ چې د سقاوي رژیم په وخت کي یې عزیزان وژل سوي او یا پخپله د حبیب الله په امر وژل سوي ول. هغوی ټولو د حبیب الله کلکاني او د هغه د ملګرو د اعدام غوښتنه وکړه او نادرشاه، هم له دې پلمي څخه په استفادې سره، حبیب

الله او د هغه دوولس ملګري اعدام کړل. مورخين وايی چې نادرشاه په قرآن شريف قسم ورسره کړی او پخپله يې لاسليک کړی وو. آدمک ص ۱۸۲

نادرخان په خپل لومړني فرمان کې خپلو وزيرانو ته هدايت ورکړ چې ده د اداري فساد د له منځه وړلو فيصله کړې ده او هغه چا ته به چې رشوت اخلي او يا د حکومتي مقام څخه بده استفاده وکړي سخته سزا ورکړي. آدمک ص ۱۸۰

نادرخان له اداري فساد او د خلکو د کارونو د بې‌ځايه ځنډولو يا کاغذ پرانی د مخنيوي لپاره د دفاع په وزارت کې د شکاياتو صندوق کښېښود. د کابل له اوسېدونکو څخه غوښتل سوي وه چې له حکومت سره د اداري فساد سره په مبارزه کې مرسته وکړي. مګر له حکومت سره د دې مستقيم تماس څخه پر چا باندې د ناحقه تور لګولو لپاره کار وانه خلي. شاه محمودخان ته د خلکو د شکايتونو د اورېدلو او د ضرورت په وخت کې د تحقيقاتو د کولو صلاحيت ورسپارل سوی وو. ګريګوريان ص ۲۹۹

د نادر شاه حکومت په لومړيو ورځو او شپو کې له سختو مشکلاتو سره مخامخ وو؛ خزانه خالي وه او د ماليانو د ټولولو لپاره يې هيڅ توان او قوت نه درلودی. ځوانانو د حکومت لپاره د پيسو غونډولو يوه کمېټه جوړه کړه. آدمک ص ص ۱۸۰-۸۱

هغو قومي پوځونو چې له نادرخان سره د کابل د نيولو لپاره يو ځای سوي ول، د سقاو له ماتې وروسته د قدرت له خلا څخه ګټه واخيسته او د کابل او شمالي له چوړولو څخه وروسته په خپله مخه ولاړل. نادرشاه ځکه د هغوی مخه نه سوه نيولای چې نه يې منظم پوځي قوت درلود او نه يې د هغوی د خدمت په بدل کې پيسې په لاس کې لرلې. دا وخت له خنجان څخه هغه اته لس زره کسيز پوځ را ورسېدی چې د سيد حسين څخه پاته سوی وو. دا پوځي قوت د حربيې د وزير شاه محمود خان تر قيادت لاندې له پوځي قوې سره يو ځای سو. له هرات څخه عبدالرحيم خان کوهستاني، چې دا وخت د هغه ولايت ريس تنظيمه وو، نادرشاه ته بيعت را واستاوه او د هرات د خزانې څخه يې پيسې ورته را ولېږلې. مجددی ص ۵۱۲

کابل، د حبيب الله کلکاني د حکومت او داخلي جنګ او دغه راز د ايله جاري او قبايلي لښکرو د چور او تاړاک له امله، دونه خراب سوی وو چې حتی ارګ د شپې د تېرولو او دفتري کارونو وړ نه وو. نادرشاه د اوسېدلو لپاره، د فرقه مشر محمدهاشم خان کور غوره کړ او سلطنتي او اداري چارو لپاره يې د سردار فتح محمدخان کور انتخاب کړ. هغه کتاب ص ۵۰۷

فريزر ټيټلر ليکي چې هغه په خپله لنډه څلور کلنه دوره کې څرګند پرمختګونه وکړل. د قدرت په لنډه دوره کې يې څلوېښت زره کسيز پوځ جوړ کړ او يو شمېر ښوروښونه يې کرار کړل. د هندوکش په غرونو کې يې سړک تېر کړ او د دولت عايدات يې هغې اندازې ته ورسول چې د امان الله خان په لس کلنه دوره کې نه وه رسېدلي؛ او د هيواد په لويو لارو کې يې داسې امنيت قايم کړ چې تر ده مخکې هيڅ وخت موجود نه وو. ټيټلر وايی چې برتانيې په ۱۹۳۱ کال کې لس زره توپک او ۱۸۰ زره پونډه نغده مرسته ورسره وکړه. دی وايی دا سخاوتمندانه مرسته وه مګر په دې پيسو په داسې يوه هيواد کې چې مساحت يې تر فرانسې زيات دی، او له سرکښو اولسونو څخه

جوړ دی، د امنیت ټینګول او نیکمرغي راوستل اسانه کار نه دی. هغه له خارجي منابعو څخه نوره هیڅ مرسته ترلاسه نه کړه. ټیټلر ص ۲۳۱

لوستونکي چې دا کرښې لولي نو دا باید ورپه زړه کړي چې یوازې امریکا، د ۲۰۰۲ کال راهیسې تر اوسه یعنې ۲۰۱۷ کال پورې له افغانستان سره څه باندې سل زره میلیونه ډالره مرسته کړې ده، او په یوه وخت کې په افغانستان کې د امریکا او متحدینو د پوځي قواوو شمېر څه باندې یو سل او پنځوس زرو تنو ته ورسېدی. که له دې سره د ناټو او د امریکا د نورو متحدینو، غیرمتحدینو او عربي هیوادونو مالي مرستې په نظر کې ونیسو نو خبره ښایي تر یو سل او شل زرو میلیونو ډالرو واوړي. په داسې حال کې چې اوس حاضر افغانستان په اداري فساد او د مخدره موادو په تولید کې، په نړۍ کې، دوهم او لومړی مقام لري او څه باندې لس کاله کېږي چې د کابل کندهار او کندهار هرات په څېر مهمو او حیاتي لارو امنیت نه سي خوندي کولای؛ او، د پایتخت په شمول، په ښارونو او اولسوالیو کې د چا سر او مال خوندي نه دی. د دې ارقامو په مقابل کې چې، څوک انکار ورڅخه کولای نه سي، هر ډول استدلال وکړو د عقل او معقولیت لاري به راباندي تړلي وي.

## د نادرشاه سیاسي ستونزي:

د افغانستان په تاریخ کې به چنداني داسې مشر نه وي تېر سوی چې د نادرشاه په څېر، په تش لاس، د دومره زیاتو سیاسي ستونزو په غېږ ورغلی او بریالی ورڅخه وتلی وي.

مرحوم غبار لیکي په هغه ورځ چې نادرشاه د سلطنت اعلان وکړ، په هغه شپه، په دروازه لاهوري کې، د ده په کور کې د جوانان افغان د جمعیت ګوندي جلسه وه. غبار موږته نه وایي چې په دې جلسه کې څو تنو برخه درلوده خو هغو کسانو چې ګډون پکښي کړی وو د کابل نسبتا مشهور منورین ول. په دې جلسه کې غلام محی الدین آرتي وایي چې دا د انګرېزانو او هندوستانیانو دولت دی او هر څوک چې برخه پکښي اخلي هغه به خاین وي. غبار وایي چې د دې دولت د چپه کولو لپاره باید لومړی سري او وروسته علني مبارزه وسي. تاج محمد پغماني وایي چې هر وطن پالونکی باید د دې رژیم پر ضد مبارزه وکړي. فیض محمد باروت ساز هم د نادرخان رژیم د پردیو حکومت بولي او د هغه پر ضد د مبارزې او قیام بلنه ورکوي. عبدالرحمن لودین وایي چې د دې حکومت په کابینه کې باید برخه وانه خیستله سي او پر حساساو چوکیو یې کار ونه سي خو یو څه انتظار باید وایستل سي څو معلومه سي چې دا دولت بالاخره پر کومه ځي. د اسماعیل خان په نوم یو سړی هم په دې غونډه کې برخه لري. غبار ص ص ۳۸-۳۹ غبار نه وایي چې د دې یادي سوي ناستې په تعقیب یې بله غونډه هم وکړه کنه؛ خو مطلب یې دا دی چې د کابل منورینو د نادرخان سره دښمني درلوده او ټولو په یوه خوله او یوه زړه د امان الله خان د بیرته پاچا کېدلو غوښتنه کوله.

البته نادرشاه، د خپلې پاچهی په لومړیو میاشتو کې، یوازې د منورینو د بېځایه نفرت او دښمنی سره نه بلکه د خطرناکو عملي اقداماتو سره مخامخ سو.

د ۱۹۳۰ کال د جولای په نیمایي کي د امان الله خان طرفدارانو د کابل په شا وخوا کي غونډه وکړه او د رایو په اتفاق یې فیصله وکړه چي امان الله خان به بیرته پاچا کوي. دوی فیصله وکړه چي کوهدامنیان به په شمال کي د بخارایی مهاجرینو له مشر ابراهیم بیګ لقي سره تماسونه ټینګوي؛ هغه به په قطغن کي ښورښ کوي، کوهدامنیان به د کابل په شمالي سیمو کي ښورښ کوي او د امان الله خان طرفداران به کابل نیسي او سقاویان او خپل نور ملګري به خوشي کوي او محمدولي خان به د امان الله خان تر راتګ پوري د دولت د موقتي رییس په حیث ټاکي.

په دې شپو ورځو کي نادرشاه د مستوفي الممالک محمدحسین خان، چي امان الله خان د جنایاتو او خیانتونو په ګناه اعدام کړی وو، ورور محمدیوسف خان د کوهدامن حاکم مقرر کړی وو. محمدیوسف خان، کوهدامن ته له رسېدلو سره سمدستي، له خپلو زړو سقاوي یارانو او لویو زمیندارانو سره لاس یو کړ او د نادرشاه د چپه کولو دسیسه یې طرح کړه. له ده سره خپل مرستیال محمدعمرخان، د سقاو په وخت کي د قطغن او بدخشان نایب الحکومه، میربابای چاریکاري، د سقاو په زمانه کي، د یو څه وخت لپاره، د کندهار نایب الحکومه عبدالقدیرخان، د سقاوي رژیم د کابل مستوفي عبدالقیوم او ځیني نور زمینداران ملګري سول. د جولای د میاشتي پر دېرشمه ځینو حکومتي مامورینو د دفاع وزیر ته ریپوټ وکړ چي په کوهدامن کي وضع غیر عادي ده. د دفاع وزیر له محمدیوسف خان څخه پوښتنه وکړه او هغه ورته وویل چي هر څه آرام دي او خیر خیریت دی. د همدې ورځي په سبا محمدعمرخان د حکومت پر یوه پوسته حمله وکړه او لاسته راوړي وسلي یې پر خپلو ملګرو ووېشلې. د دفاع وزیر جنرال عبدالوکیل خان له څلورو سوو عسکرو سره کوهدامن ته واستاوه او حاکم ته یې اطلاع ورکړه. حاکم چي مخکي له مخکي په مورچل کي ورته ناست وو، پر قوه یې حمله وکړه، او جنرال یې تېښي کړ. ټولي وسلي یې ونیولې او پر خپلو انډیوالانو یې ووېشلې. ښورښیانو قلعه مراد بېګ او کلکان ونیول او د پغمان پر لور یې حرکت پیل کړ. نادرخان له میدان او ګردېز څخه پښتانه قبایل مرستي ته را وبلل او په اعلان یې کي یې ورته وویل چي زموږ یوازي د ښورښیانو سرونه په کار دي مال او شته مني یې ټول په تاسو اړه لري. حکومت ته لا تقویتي قواوي نه وې رسېدلي چي د شمالي د ښورښیانو شمېر پنځه ویشتو زرو تنو ته، چي دریمه برخه یې وسله وال ول، ورسېدی.

دې ښورښ به لا ډېره خطرناکه بڼه اخیستي وای خو د ښورښ په پیل کي د دوو مشرانو محمدعمرخان، چي یو غلجی پښتون وو، او اعظم خان، چي د شمالي تاجیک وو، پر رهبری او پاچهي باندي اختلاف پیدا سو. حکومت ته په دغه حساس وخت کي له وردګ، ګردېز، تګاو او نورو سیمو څخه څلور زره ملېشه ورسېدل. سره له هغه چي نادرخان په دغه وخت کي د سیاسي جنجالونو او بحران سره مخامخ سو او په نتیجه کي د کابل ښاروال عبدالرحمن لودین اعدام سو او د ملي شورا ځیني غړي ونیول سول، خو د شمالي د ښورښ په ځپلو کي یې بری تر لاسه کړ. محمد اعظم خان قطغن او محمدعمرخان مشرقي ته وتښتېدی او هلته د اګست د میاشتي پر دوهمه ووژل سو.

نادرخان په یوه هفته کي ډېر خطرناک ښورښ وځپی. په پایتخت کي یې تقریبا شپېته تنه د مخالفینو په نوم ونیول او ځیني یې په توپ کي والوزول. او شپاړس تنه یې د سقاو له زوی سره د همکاری کولو او نورو ګناهونو په تور غرغره کړل. بویکو ص ص ۳۲۱-۲۷

یوه بله ستونزه چې نادرخان ته د امان الله خان له وخته ورپاته وه هغه د شوروي اتحاد د کمونیستي رژیم څخه د مرکزي اسیا د مسلمانانو مهاجرین ول. د دې مهاجرینو یو مشر سیدعلم خان، د بخارا پرزېدلی پاچا وو، چې په کابل کې اوسېدی او بل یې د ایشان خلیفه قزل ایاق په نوم یو روحاني مشر وو، چې بېحده زیات شته من وو او بې حسابه رمې یې درلودلې. د اندخوی په سیمه کې د مهاجرینو یو بل مشر ابراهیم بېګ لقي وو چې کله کله به یې د شوروي په خاوره کې نظامي عملیات هم کول او ډېر زیات جنګیالي یې درلودل. د افغانستان حکومت له ابراهیم بېګ څخه څو ځله وغوښتل چې یا خپل هیواد ته ستون سي او یا د افغانستان تابعیت قبول کړي، حتی د یعقوب خان په مشرۍ یو هیات یې ور واستاوه او د بلخ د ولایت د مرستیالی مقام یې هم ورته پېشنهاد کړ؛ مګر ابراهیم بېګ ، د کابل د حکومت په شرایطو،روغې جوړې ته حاضر نه سو. د یعقوب خان سره په هغه سفر کې دوه توپونه او څو ماشین دار ورسره وه. د هغه اصلي وظیفه په شمال کې د سولې ټینګول وه او د سقاوي رژیم د مامورینو او فعالینو سره یې چنداني غرض نه درلود. البته د امان الله خان ملګري یې سخت زورول او په تېره هغه کسان یې چې د غلام نبي خان چرخي په پوځي عملیاتو کې یې برخه اخیستې وه ویل چې تاسې زموږ لپاره د روسانو حیثیت لرئ او په تاسې اعتماد نه سي کېدلای.

د ۱۹۳۰ کال په منې کې ستونزه هغه وخت زیاته سوه چې نادرخان له ابراهیم بېګ څخه وغوښتل چې وسلې تسلیم کړي او خپل ملېشه منحل کړي. ابراهیم بېګ د کابل د حکومت دا غوښتنه ونه منله او مقاومت ته یې دوام ورکړ. د ۱۹۳۰ کال د ډسمبر په میاشت کې شاه محمود خان له یوه لوی لښکر سره د شمال خواته روان سو. له هغه سره په دې پوځي سفر کې د پکتیا ، وردګ او د مسعودو او ځدرانو قبایل ملګري ول. د دې لښکرکښۍ هدف په شمال کې د حکومت د مخالفینو او ابراهیم بېګ له منځه وړل ول. هغه کتاب ص ص ۳۳۴-۴۶

شوروي منابع وایي چې د شمالي سیمو ازبیکانو او تاجیکانو  د ابراهیم بېګ مرستې ته، چې نور یې نو د نادرشاه له حکومت سره مخامخ مقابله پیل کړې وه، دوه زره پنځه سوه تنه جنګیالي واستول. د قطغن ازبیکو د ابراهیم بیګ سره د وسلو او جنګیالیو مرستي کولې. او ابراهیم بیګ هم په ښکاره د پښتنو په مقابل کې د اوزبیکو د نفرت او دښمنۍ پارولو لپاره شپه او ورځ تبلیغ کاوه. په قطغن او شاوخوا کې دونه سخت جنګونه وسول چې ابراهیم بیګ په ډېر افتخار سره ویل چې حکومتي قواوو ته یې دوه زره پنځه سوه تنه تلفات رسولي دي. دا رقم که څه هم چې له مبالغې څخه خالي نه دی، خو سړی ویلای سي چې هلته باید سخت جنګونه سوي وي... شوروي منابع، د سیمې د خلکو په حواله، وایي چې د ابراهیم بیګ سره ملګري باسماچیان په دې جنګونو کې ډېر شته من سول او د قدرت سیمې یې سره ووېشلې او نور یې نو د سیمې پر هغو خلکو چې له دوی سره یې مرستې کړې وې ظلمونه پیل کړل او د هغوی د لاس ډوډۍ یې ورڅخه واخیستله. د دوی د دغو اعمالو له کبله، د سیمې تاجیک او اوزبیک، چې دوی د هغوی په مرسته غښتلي او شته من سوي ول، د باسماچیانو پر ضد را پورته سول. رازهای سر به مهر ص ص ۱۰۸-۱۰۹

ترکمن، تاجیک او ازبیک مهاجرینو، چې شمېر یې په یو وخت کې یو میلیون تنو ته رسېدی، او د ابراهیم بیګ لقي په  څېر په لس هاوو قوماندانان او جنګیالي یې درلودل، د افغانستان د خاوري تمامیت تهدیداوه او د پښتنو او نورو قومونو ترمنځ د جلاوالي او دښمنۍ سبب کېدی. د شمالي سیمو اوزبیکو او ترکمنو ابراهیم بیګ ته ویل چې

ته غازي یي او چي هر څه دي زړه غواړي هغسي وکړه. د هاشم خان په خبرو او وعدو مه غولېږه، افغانان د اعتبار او باور خلک نه دي او له بلي خوا به یي نادرخان ته د ابراهیم بیگ په باره کي چغلی کولي او هغه ته به یي ویل چي ابراهیم بیگ د پاچهی خیال لري. هغه کتاب ص ص ۱۰۲-۱۰۳

د جون په میاشت کي یو ناڅاپه د شوروي سرو لښکرو، د باسماچیانو د ځپلو په منظور، د افغانستان پر خاوره باندي تېری وکړ او په علي آباد او آق تپه کي یي، چي شوروي مهاجرین یا باسمچیان پکښي اوسېدل، ډېری زیاتي تباهی منځته راوړې او د باسمچیانو منابعو ویل چي په دې حمله کي تر زرو تنو پوري ووژل سول. ابراهیم بیگ لقي او د هغه قوماندانان، چي له شوروي لښکرو سره یي د مقاومت کولو توان نه درلود، د جنگ له سیمي څخه وتښتېدل. ص ۱۰۳

نادرخان هم د بخارا د پخواني او مهاجر پاچا عالم خان او هم د خپلو سړیو په واسطه ابراهیم بیگ ته لیکونه او پیغامونه واستول او هغه یي کابل ته وباله او د وسلو د ایښودلو خواستونه یي ورته وکړل مگر ابراهیم بیگ بالاخره نادرخان ته په لېږلي پیغام کي وویل چي زه به خپلي وسلي او په تاجیکستان کي تر لاسه کړي وسلي د شوروي حکومت ته تسلیم کړم خو تاسي ته به تسلیم نه سم. نادرخان ته له جنگه پرته بله هیڅ چاره پاته نه سوه او د ۱۹۳۰ کال د جولای په میاشت کي د افغاني قواوو او ابراهیم بیگ ترمنځ نښتي پیل سوې. په لومړیو جنگونو کي افغاني قواوو ته درانه تلفات واوښتل او ډېري زیاتي وسلي یي د ابراهیم بیگ د قواوو لاس ته ورغلي. د دې جنگونو لمن د بدخشان له ولایت څخه تر میمني پوري پراخه سوه او د اکتوبر تر میاشتي پوري یي دوام وکړ.

نادرخان په دې جنگونو کي هم د وزیرو او مسعودو له لښکرو څخه کټه واخیستله او په مقابل کي د شمالي سیمي تاجیکو او اوزبیکو هم له ابراهیم لقي سره مرستي کولي. ابراهیم لقي، چي د افغاني قواو سره یي د مخامخ جنگ کولو توان نه درلود، گیریلایي حملو ته لاس واچاوه او افغاني قواو ته یي ډېر درانه تلفات واړول. نادرخان، چي نه یي په خزانه کي پیسي درلودلي او نه یي په قشلو کي وسلي، له انگرېزانو څخه د مالي او پوځي مرستي غوښتنه وکړه. انگرېزانو هغه ته لس زره توپک او ۱۴۰ زره پونډه مرسته ورکړه( دا رقم ۱۸۰۰۰۰ پونډه دی، ځکه چي انگرېزانو له نادر خان سره همدغه یو ځل مرسته کړې ده) او نادرخان خپل ورور سپه سالار شاه محمودخان د ډسمبر په میاشت کي، د وروستي او قاطع جنگ لپاره، واستاوه. ابراهیم بیگ لقي د ۱۹۳۱ کال د فبروري او مارچ د میاشتي په جنگونو کي تر سختو شکستونو وروسته نور د مقاومت توان نه درلود او د خپلو ملگرو سره د شوروي خاوري ته واوښت او ځان یي شوروي مقاماتو ته تسلیم کړ. هغه کتاب ص ص ۱۰۵-۱۱۱

شوروي مقاماتو ابراهیم بیگ هم د څو تنو ملگرو سره اعدام کړ. د تاجیکستان یو ختیځ پېژندونکی س شاه خماروف د کابل د ملي آرشیف د موادو په حواله وایی چي نادرشاه پر ابراهیم بېگ باندي برى د کابل د فتحي په څېر مهم باله. بویکو -۳۵۱

په دې کي هیڅ شک نسته چي نادرخان ته د دې جنگ گټلو باید د کابل د فتحي په څېر اهمیت درلودلی وي. نادرخان د پاچهی له پیل څخه د ابراهیم بیگ له ستونزي سره مخا مخ وو. هغه مجبور وو چي دې ستونزي ته په هره طریقه چي کېږي خاتمه ورکړي. باسماچیان د شوروي اتحاد په سرحد کي اوسېدل او د نادرخان، نوي قدرت ته رسېدلي دولت، چي نه یي وسلي او نه یي پیسي درلودلي، د باسماچیانو چاره نه سوای کولای. پر باسماچیانو باندي، د

افغانستان په خاوره کې، د شوروي حملې او د نادرخان چوپ پاته کېدل د هند په مسلمانانو او افغانستان کې د هغه د بدنامی سبب کېدی او په داخل کې یې سیاسي رقیبانو د هغه له دې بدنامی څخه ډېره ګټه اخیستله. دغه رازپر شوروي اتحاد باندې د افغانستان له خاورې څخه د باسماچیانو حملو شوروي مقاماتو ته پر افغانستان باندې د متقابلو حملو پلمه په لاس ورکوله.

له بلې خوا، شوروي مقاماتو، چې د نادرخان په مقابل کې یې د غلام نبي خان چرخي او امان الله خان څرګنده طرفداري کوله، له یوې خوا پر باسماچیانو باندې پوځي حملې کولې او له بلې خوا یې د افغانستان په شمال کې د نادرخان د حکومت د کمزورې ساتلو او په شمال کې د نادرخان د دایمي مصروف ساتلو په منظور له باسماچیانو سره پټې مرستې کولې. په خارجه وزارت کې د ختیځ د دریمي سیاسي څانګې رییس تسوکرمان د خارجه وزارت مرستیال قراخان ته ولیکل چې زه د ابراهیم بیګ په مقابل کې د خپل حکومت سلوک ډېر سخت خطرناک بولم. تسوکرمان لیکي چې که چېرې موږ د افغانستان په شمال کې ښورښونو ته د بزګري تحریکونو په سترګه ګورو او غواړو د ابراهیم بیګ، ایشان خلیفه ، بچه جنید او نورو په واسطه د نادرشاه رژیم کمزوری کړو نو دا به مو ډېره ستره اشتباه وي؛ ځکه چې دوی د شوروي سستم دښمنان دي او غواړي د نادرخان د رژیم په کمزوري کولو سره د هغه هیواد په شمال کې داسې یوه سیمه لاسته راوړي چې له هغه ځایه پر مرکزي اسیا باندې حملې وکړي. تسوکرمان لیکي چې د ابراهیم بیګ په مقابل کې باید یوه ټاکلې برنامه ولرو، ځکه چې هغه به هم په مرکزي اسیا کې زموږ حکومت تهدید کړي او هم به د کابل د حکومت په مقابل کې بې اعتباره سو. بویکو ۳۴۶-۴۷

د نادرشاه حکومت، چې د ابراهیم بیګ د ځپلو لپاره یې نه ښې وسلې او نه مالي قوت درلود، په دې ګومان چې باسماچیان د شوروي او افغانستاتن د حکومتونو مشترک دښمنان دي، د شوروي له حکومت څخه جنګي الوتکې او وسلې وغوښتلې؛ مګر شوروي حکومت یې غوښتنه ونه منله. د افغانستان حکومت بالاخره له شوروي څخه وغوښتل چې لږترلږه هغه وسلې ورکړي چې د غلام نبي خان چرخي څخه د جون په میاشت کې شوروي قواوو ضبط کړې دي. شوروي دا غوښتنه هم ونه منله. هغه کتاب ۳۴۷

د بلې خوا ابراهیم بیګ لقي د نادرشاه له حکومت سره د اختلاف پیداکولو او په تېره بیا نظامي مقابلې له پیل کولو سره سم، نه یوازې د نادرشاه د حکومت بلکه په عمومي صورت د پښتنو پر ضد ځکه تبلیغاتو ته ملا تړلې وه چې نادرشاه د هغه په مقابل کې د وزیرو او مسعودو قبایل جنګ ته ایستلي ول. د ابراهیم بیګ دې تبلیغاتو، چې د افغانستان په خاوره کې یو بېګانه مهاجر وو، په نهایت کې خطرناک عواقب درلودل او په افغانستان کې یې د پښتنو او نورو قومونو ترمنځ د بدبینی او جلاوالي په راوستلو سره د عمومي قومي وېش او حتی د خاورې د جلا والي لپاره، زمینه برابروله .

نادرشاه بیا هم نه غوښتل چې د ابراهیم بیګ لقي سره جګړه وکړي او یا هغه له خپلې خاورې څخه ایستلو ته مجبور کړي. هغه یوازې غوښتل چې ابراهیم بیګ کابل ته راولي او د عالم خان په څېر په پایتخت کې و اوسېږي. کله چې ابراهیم بیګ په دغه برخه کې د نادرشاه ټولې مرکې رد کړې او حتی د نادرخان دا پیشنهاد یې چې هغه یې د مزار شریف د والي د مرستیال په حیث مقرر کړی وو ونه مانه. خو کله چې هغه د نادرخان د وسلو د تسلیمولو پیشنهاد هم قبول نه کړ او په شمال کې یې ځانته خودمختار حکومت جوړ کړ او له افغانستان څخه یې د

شوروي پر خاوره باندي، چي افغانستان په هيڅ توګه له هغه سره د دښمنۍ کولو توان نه درلود، حملو ته دوام ورکړ نو نادرشاه د ابراهيم بيګ په مقابل کي پوځي عملياتو ته مجبور سو. ابراهيم بيګ د شوروي ترکمنستان د جمهوريت د خلکو قهرمان وو؛ خو په افغانستان کي هغه يو بېګانه مهاجر وو او افغانستان د شوروي اتحاد په څېر يوه قوي ګاونډي باندي د هغه د حملو له امله خطرونه نه سوای تحمل کولای.

شوروي اتحاد د نادرخان او د هغه د کورنۍ پر ضد، سره له هغه چي د نادرشاه رژيم يې په رسميت هم پېژندلی وو، د دوهم نړۍ وال جنګ تر پايه پوري، له دسيسو څخه لاس وانه خيست. په ۱۹۳۰ کال کي، کمونيستي انټرنيشنل يا کمينټرن، چي بودجه او پاليسي يې په مستقيمه توګه د شوروي د کمونيستي ګوند او حکومت له خوا رهبري کېدله، په افغانستان کي د حزب انقلابي خلق افغانستان په نوم يوه ګوند د جوړېدلو پيشنهاد وکړ. د دې ګوند د تبليغاتي فعاليتونو لپاره بايد د ايران د کمونيستانو څخه، چي په فارسي ژبه يې مواد برابرولای سوای، ګټه اخيستله سوې وای. تاريخي اسناد په افغانستان کي د دې ګوند دفعاليتونو او د اغېزې په باب چنداني څه نه وايي خو د شوروي اتحاد په آرشيفونو کي يې له خوندي سوي عمومي برنامې څخه ښکاري چي شوروي اتحاد د افغانستان په باب څومره شوم اغراض لرل. حزب انقلابي خلق افغانستان بايد دا لاندي مرامونه پر مخ بېولي وای:

الف: د انګليس د امپرياليزم په مقابل کي پراخه او پيګيره مبارزه.

ب: د افغانستان د مالياتي نظام او د دولتي مامورينو او پوليسو د خپل سرو عملونو په مقابل کي مبارزه، د تاجرانو د مالونو، د ځمکه والو او لويو خانانو د جايدادونو مصادره کېدل او خواري کښو بزګرو ته د هغوی مساويانه او عادلانه وېشل... ضمنا د مالياتو د کمولو لپاره مبارزه او د ګروی او اجارې د قراردادونو فسخ کول، د ټولو باقياتو بخښل او د ټولو مامورينو انتخابي کول او خپلو انتخاب کونکو ته مسوول کول.

پ: د افغانستان ټولو اوسېدونکو قبايلو او قومونو ته بېله استثنا په ټولو اقتصادي او سياسي چارو کي مساوي ونډه ورکول او دغه راز د ځينو قبايلو او کورنيو د ټولو امتيازاتو لغو کول، د عمومي عفوي اعلانول او د ژبو برابري غوښتل.

ت: د افغانستان په باب د کمينټرن بل هدف ( چي سرې يې تر ټولو بې شرمانه او زيانمنه مداخله بللای سي، جهاني) دا دی چي له افغانستان سره دي ټولي هغه سيمي چي په آزاد سرحد کي څلور ميليونه انسانان پکښي اوسېږي، يو ځای سي، او په عين حال کي دي د افغانستان د شمال اوسېدونکو تاجيکانو،اوزبيکانو، ترکمنانو او نورو ته د سرنوشت د ټاکلو بشپړ حق ورکړه سي. د کمينټرن د ا ورستی برخه د هغه د ترتيبونکو اصلي ستراتيژيکه غوښتنه څرګندوي. دې ټکي ته په توجه سره چي په افغانستان کي ريښتوني ازادي يوازي د نادرخان د رژيم په مقابل کي په ټول هيواد کي د ملي قيام له لاري تر لاسه کېدلای سي، د حزب انقلابي خلق افغانستان وروستنی هدف د نادرخان د حکومت نسکورول او د خلکو د مستقل جمهوريت ټينګول دي. په دې برخه کي پر دې ټکي ټينګار سوی وو چي دا کار بايد د امپرياليزم او فيوډاليزم په مقابل کي د هند د پرولتاريا او بزګرانو د بريالي انقلاب سره په ارتباط کي سرته ورسېږي. هغه کتاب ص ص ۳۶۰-۳۶۱

په افغانستان کي د بښورښ د پيل لپاره د ۱۹۳۱ کال منی په نظر کي نيول سوی وو. د امان الله خان طرفداران په خپل بري باوري ول او حتی يو ځل خو امير امان الله خان د هماغه کال د سپټمبر پر يودېرشمه نادرشاه ته يو ټلګرام واستاوه او په هغه کي يې ورته وليکل چي نور بس دی پورته سه او د ملکه ووزه. زه ډېر قوت لرم. د بېګناه خلکوويني په ناحقه مه تويوه. هغه کتاب ص ۳۶۵

امان الله خان د خپلو سياسي فغاليتونو لپاره اصلي مرکز د آزاد سرحد قبايل ټاکلي ول، او په هغه سيمه کي يې پرله پسې تبليغات کول. داچي په قبايلو کي د عام بښورښ او پر افغانستان باندي د را ماتېدلو په صورت کي به څه پېښ سوي وای سړی څه نه سي ويلای؛ خو په عمومي صورت دونه ويلای سي چي قبايل په هيڅ صورت د باور قوه نه ده. قبايل د يوه ټاکلي هدف لپاره تر يوه ټاکلي وخت پوري سره يو ځای کېږي او په هغه صورت کي هم هر ګړی خپلو ګټو ته ګوري. قبايل پر ملي ګټو او ملي او سياسي شعارونو او هدفونو باندي عقيده نه لري. که د هغوی تر منځ کله اتحاد او يووالی راتللای سي نو هغه به يوازي مذهبي انګېزه او هغه هم د يوه منل سوي او پېژندل سوي مذهبي يا روحاني مشر تر رهبری لاندي وي، چي تر يو وخته پوري دوام کولای سي. حتی کله کله خو د مذهبي جذبې او جهاد په وخت کي هم ميدان پرېږدي او په قبايلي ګټو پسي روانېږي. د سيکهانو پرضد، د سيد احمد برېلوي د جهاد په ترځ کي يوسفزي ښادي خان، چي په لومړي سر کي يې سيد احمد برېلوي ته د مرستي لاس اوږد کړی وو، د خپل مذهبي دښمن رنجيت سينګه سره لاس يو کړ او د سيد احمد پر لښکرو يې حمله وکړه. دغه راز سردار يارمحمدخان د سيد احند برېلوي پر ضد د رنجيت سينګه سره يو ځای سو. دغه راز د سوات د اخوند صاحب او انګرېزانو تر منځ د امبالي په جنګ کي، چي ښايي له قبايلو سره د انګرېزانو تر ټولو پراخ او دوامداره جنګ به وو، ځيني پښتانه خانان د جنګ په جريان کي پر شا سول او له انګرېزانو سره يې خبري پيل کړې.

همدغه آزاد قبايل لږه موده مخکي د امان الله خان د اصلاحاتو پر ضد پاڅېدلي او جنګېدلی ول. وروسته يې د نادرخان ملاتړ کړی وو او يو کال وروسته بيرته د نادرخان په مقابل کي يوه بل پاڅون ته تيارېدل. که يې پاڅون په ريښتيا هم بريالی سوی وای نو يوازي به يې کابل او شاوخوا سيمي چور کړي وای او بيرته به په خپله مخه تللای او د يوه بل بښورښ او يوه بل چور په انتظار به کښېنستلای. د دې يو اساسي علت دادی چي قبايل په خپلو سيمو کي د خپلو تربرونو او نورو قبايلو سره د وينو دښمنی او د مځکو او څرخايونو پر سر ډېر زاړه اختلافات لري او د دوی لپاره تر بل هر کار د دغو دښمنيو فيصله کول ضروري او اړين دي. که د دې دښمنيو د پوره کولو لپاره د جنګ په ترځ کي پر شا سي هم کېدلای سي او که د جنګ څخه مخکي پر شا سي هم يې امکان موجود دی. د افغانستان په تاريخ کي د قومي مشرانو د جبهو د هر ګړی او څو ځله تبديلولو پېښي دونه ډېري دي چي د دې هيواد د تاريخ يو اوږد او غم لړلی فصل ور جوړوي.

پخپله نادرخان هم د قبايلو د مذهبي جذبې څخه په وېره کي وو او د ۱۹۳۰ کال د سپتمر په مياشت کي يې د برتانيې د استازي ريچارډ ميکوناچي سره په خبرو کي انديښنه ښودلې وه. نادرشاه ميکوناچي ته وويل چي د امان الله خان د بيرته پاچا کېدلو يوازينی چانس دا دی چي د برتانوي هند په مقابل کي د جهاد جنډی پورته کړي او د جهاد رهبري پر غاړه واخلي. په هغه صورت کي به د ده لپاره ګرانه وي چي مقاومت ورسره وکړي او چي هره لاره واخلي نسکورېدل به يې حتمي وي. په هغه صورت کي به افغانستان يو کمزوری هيواد سي چي د دوو لويو

قدرتونو ترمنځ به د حايلي سيمي رول نه سي لوبولای او ډېره بده به دا وي چي امان الله خان به د روسانو ګوډاګی سي. تيخانوف ص ۲۵۴

مخکي له هغه چي امان الله خان د نادرخان په مقابل کي له مذهبي وسيلې څخه کار واخلي، نادرخان واری دمخه کړ او د ۱۹۳۲ کال په سر کي يې خپل دواړه ورونه شاه محمود خان او محمدهاشم خان قبايلو ته ولېږل او هغوی د روحانيونو او لويو ملايانو په واسطه قبايلي خلکو ته قناعت ورکاوه او د امان الله خان له ملګرتيا څخه يې را ګرځول .

که څه هم چي له نادرخان سره چنداني پيسي نه وې، چي قبايلي مشرانو ته يې په رشوتونو کي ورکړي وای خو دولتي قدرت پخپله ډېره لويه وسيله ده او هغه وکړای سوای چي ځينو کسانو ته د ماليانو د معافولو، ځينو ته د مځکو د بخښلو او ځينو تپه د منصبونو د ورکولو له لاري قانع کړي او د امان الله خان له ملګرتوب څخه يې را وګرځوي. نادرخان په دې توګه د يوه لوی قبايلي بحران، چي د ده قدرت يې تهديداوه مخه ونيوله او ثبات يې قايم کړ. هغه کتاب ۲۵۵

د امان الله خان د طرفدارانو زړونه هغه وخت پوره سول چي غلام نبي خان چرخي د ۱۹۳۲ کال د اکتوبر پر ديارلسمه له انقرې څخه کابل ته ورسېدی. نادرشاه له هغه سره وکتل او هغه ته يې پېشنهاد وکړ چي که له سياسي فعاليت څخه لاس واخلي نو په استانبول کي به د سفير تنخوا ورته مقرره کړي. د هغه ورور غلام صديق خان به په برلين کي د سفارت پر چوکی پرېږدي او دغه راز به يې بل ورور غلام جيلاني خان هم د سفير په حيث مقرر کړي. غلام نبي خان ژمنه وکړه چي د دې پېشنهادونو په باب به غور وکړي. مګر په عمل کي يې سمدستي خپلو سياسي فعاليتونو ته زور ورکړ. هغه کتاب ص ۳۶۶

افغانستان ته د غلام نبي خان له رسېدلو سره، د امان الله خان طرفدارانو، د سرحد له قبايلو سره، د نادرخان پر ضد د يوه وسله وال قيام لپاره تماسونه ټينګ کړل او ډېر زيات کسان يې قيام ته تيار کړل. د وزيرو قبايلو د نادرخان له دښمنانو سره يوه موافقه لاسليک کړه چي د هغې په اساس به د کابل د نيولو په صورت کي دوی ته اته سوه زره افغانی او د کابل د خزانې د چوړولو اجازه ورکوله کېدله. تيخانوف ص ۲۵۶-۵۷

نادرشاه، د خپلو فعالو استخباراتو له لاري، د غلام نبي خان او د امان الله خان د طرفدارانو له ټولو فعاليتونو څخه خبر وو او د هغه د پلانونو د عملي کېدلو د مخنيوي لپاره يې لازم تدابير نيولي ول.

انګرېزانو هم په صوبه سرحد کي د غلام نبي خان د فعاليتونو د څارلو لپاره بشپړ ترتيبات نيولي ول. هغوی په دې خبر ول چي د امان الله خان د طرفدارانو د قيام اصلي قوه د آزاد سرحد پښتني قبايل دي. په کابل کي د شوروي سفارت پوځي آتشه رپوټ ورکړ چي په پېښور کي د انګرېزانو پوځي قطعات د تيارسی په حالت کي دي؛ او ځيني قواوي يې د افغانستان او برتانوي هند پولو ته استولي وې .

نادرخان او د هغه انګليسي متحدينو په دې برخه کي کافي اسناد او شواهد په لاس کي لرل. د شوروي استخباراتي اسناد ښيي چي بايد افغانستان ته د غلام نبي خان د رسېدلو سره سم، د خوګيانيو قبيلي د ملک قيس په مشری ښورښ پيل کړی وای، مګر نادر خان د خپلو استخباراتو په زور د هغه مخه ونيوله او غلام نبي خان کابل ته راغی.

ډېر زیات ډیپلوماټان د غلام نبي خان دې خطرناک حرکت ته حیران ول او حتی د شوروي سفیر ستارک په ارگ کي په یوه مېلمستیا کي له غلام نبي خان څخه په ډېر احتیاط د هغه د پروگرامونو په باره کي پوښتنه وکړه. غلام نبي خان ورته وویل چي د کار لپاره راغلی دی او حکومت، د قبایلو له وېري، د هغه په مقابل کي د عمل کولو جرأت نه لري. ستارک د شوروي سفارت ته په خپل رپوټ کي ولیکل چي غلام نبي خان، د نادرخان په مقابل کي د پاڅون لپاره، ولایاتو ته خپل سړي او لیکونه استولي دي، او دا کار په ډېره بې احتیاطي کوي. ډېر زیات کسان چي د ده پیغامونه او لیکونه رسوي د نادرخان د استخباراتو سړي دي؛ او د نادرخان حکومت د غلام نبي خان په ټولو فعالیتونو پوره خبر دی. هغه کتاب ص ص ۲۵۸-۲۵۹

د شوروي اتحاد د حکومت ټولي څانگي د افغانستان په چارو کي د مداخلي او د امان الله خان د طرفدرانو د ملاتړ په برخه کي په یوه نظر نه وې. د شوروي اتحاد استخبارات او د گوند په رهبري کي ځیني کسان د شوروي د عاجلو اقداماتو پر خوا ول مگر خارجه وزارت د شوروي عملیاتو ته خوشبین نه وو. د خارجه وزارت یو عالي رتبه مامور تسوکرمان د خارجه وزارت مرستیال لیونید قراخان ته په یوه یاداشت کي لیکلي وه چي هر څوک چي داسي گومان کوي چي په نیژدې راتلونکي کي به د نادرخان پر ځای زموږ یو طرفدار، چي زموږ به په گټه وي، په کابل کي قدرت ته ورسېږي، اشتباه کوي. ځکه چي په اوسنیو شرایطو کي د نادرخان پر ځای د امان الله خان منځته راتلل ؟په افغانستان کي د قواوو تناسب خرابوي او انگرېزان ښایي داسي مداخله وکړي چي خپل یو گوډاگی به قدرت ته ورسوي. د نادر خان له پرزېدلو سره به په افغانستان کي قومي او قبیلوي جنگونه پیل سي چي ټول هیواد به ټوټي ټوټي سي او په هره سیمه کي به یو پاچا ناست وي. په افغانستان کي د اوضاع دغه راز خرابېدل به انگلیسانو ته دا فرصت په لاس ورکړي چي د منځنۍ اسیا په هیوادونو کي به د مداخلي کولو لپاره ډېري لاري ورته خلاصي سي او موږ به مجبور یو چي د خپلو پولو د ساتلو لپاره زیات پوځي اقدامات وکړو. بویکو ص ص ۳۵۵-۵۶

نادرشاه، د غلام نبي خان د فعالیتونو د شنډولو لپاره، خپل ورور شاه محمود خان، چي د جنوبي په پښتني قبایلو کي یې زیات نفوذ درلودی، هغي سیمي ته واستاوه. هغه ته ډېر ژر معلومه سوه چي غلام نبي خان په پښتني قبایلو کي په خطرناکو فعالیتونو بوخت دی او د نادر خان پر ضد ډېر زیات خلک پارېدلي دي. شاه محمودخان په دې پوهېدی چي قبایل د پوځي مهماتو له کمبود سره مخامخ دي نو یو چل یې وکړ او هغه دا چي، د پوځي مهماتو په نوم، یو کاروان یې خوست ته واستاوه. پښتني قبایلو پر هغه باندي حمله وکړه خو وروسته ورته معلومه سوه چي ټول صندوقونه له ډبرو او شگو ډک دي. په دې توگه شاه محمود خان خپل ځان د قبایلو په نیت خبر کړ او نادرشاه ته یې د غلام نبي خان د دسیسو په باب اطلاع ورکړه.

د شوروي سفارت پوځي آتشه واسیلییف حکومت ته په خپل رپوټ کي لیکي چي د ورځي د نیمایي په شاوخوا کي د نادرشاه یو یاور د غلام نبي خان کورته ورغی او هغه ته یې وویل چي پاچا د هوا خوری لپاره دباندي وزي او ته یې بللی یې. کله چي غلام نبي خان ارگ ته ورغی نادرخان د ارگ له برنډې څخه په ښکنځلو او بد ویلو بنا وکړه. غلام نبي خان په پوره زړه ورتوب جواب ورکړ او نادرشاه هم هیڅ رحم ورباندي ونه کړ. عسکرو ته یې امر وکړ چي د توپکوپه قنداقونو یې ووهي. هغه کتاب ص ص ۲۵۹-۲۶۰

نادرخان د غلام نبي خان چرخي د اعدامولو سره، د مطلقه شاهي له رسم او عادت سره سم، د چرخي کورنی او د امان الله خان نور طرفداران په زبردستی سره وځپل او پر چا باندي يې چنداني رحم ونه کړ. د دې کورنی ځو تنه نور غرغره سول. د چرخي د کورنی ډېر زيات کسان بنديخانو ته واستول سول، چي ځو تنه يې هلته وفات سول. او ډېر زيات يې تر ډېرو کلونو پوري د بنديخانو شومه سول. بويکو ص ۳۶۸

شاه محمود خان له پنځه لسو زرو عسکرو سره د جنوبي خواته خوځېدلی وو او د غلام نبي خان د طرفدارو ځدرانو خانانو د اېلولو او رانيولو لپاره يې ځه د پاسه پنځه ميليونه افغانی په رشوتونو ولګولې، مګر بيا هم وضع کراره نه سوه خو کله چي هغوی د غلام نبي خان له وژل کېدلو څخه خبر سول نو له مقاومته يې لاس واخيست، مګر شاه محمود خان د ښوربښيانو په نيولو بريالی نه سو او هغوی د وزيريستان سيمي ته ولاړل. له دې پېښو سره يو ځای د خوګيانيو مشهور مشر ملک قيس، چي د علي احمدخان د نيولو لپاره يې له سقاو څخه اووه لس زره روپۍ اخيستي وې، د نادرخان د غوښتني په خلاف کابل ته ورتللو ته حاضر نه سو او نادرخان ته يې جواب واستاوه چي دی غلام نبي خان نه دی چي پر خپلو پښو به دار ته تسليمېږي. ويل کېږي چي د خوګيانيو مشر پنځه ويشت زره وسله وال سړي، وسلې او توپونه درلودل او له هغه سره په داسي حال کي چي نادرخان نوري زياتي ستونزي درلودلې مخامخ مقابله ګران کار وو؛ او نادرخان دا موضوع بل فرصت ته پرېښودله. تيخانوف ص ص ۲۶۱-۶۲

نادرخان او د هغه کورنی ته د شوربازار د حضرتانو دسيسې، چي هم د اما ن الله خان د سلطنت د پرزېدلو يو لوی عامل سو او هم يې د سقاوي رژيم په مقابل کي پټي اوښکاره توطيي کولې، يوه بله لويه ستونزه وه. فضل عمر مجددي، چي په وطن کي په شېرآقا مشهور وو، او د امان الله حان په مقابل کي يې له ديني علماوو څخه د کفر فتواوي را غونډي کړي وې؛ د اعيحضرت امان الله خان د تخت د بيرته نيولو په جنګونو کي ميدان ته داخل سو او د غزني په شاوخوا سيمه کي يې د هغه پر ضد غلجي قبايل حملو ته وهڅول. امان الله خان بالاخره د جنګ ميدان پرېښود او حضرت د نادرخان ملاتړ وکړ. نادرشاه هم، چي د حضرتانو، روحانيونو او ديني عالمانو په زور پوهېدی، نه يوازي نورو ديني عالمانو ته امتيازات ورکړل او د امان الله خان ځيني اصلاحات يې لغو کړل؛ شېر آقا يې د عدليي د وزير او د علماوو د شورا د رييس په حيث مقرر کړ. حضرت، ډېر ژر، د نادرخان په مقابل کي دسيسي پيل کړې؛ ښايي ده به نور داسي امتيازات غوښتل چي نادرخان به نه سوای ورکولای او يا يې لا ښايي پخپله د پاچهی خيال په سر کي وو؛ ځکه چي که سقاو پاچاهي کولای سوای نو دی تر چا پاته وو. حضرت هم د سقاو او هم د امان الله خان له ځينو ملګرو سره تماسونه ټينګ کړل او د امان الله خان ملګرو خو ورته وويل چي که امان الله خان قدرت ته ورسېدی نو دی به په هغه نظام کي د عدليي وزير وي او د شيخ الاسلام لقب او امتيازات به ولري، او چي دی يې غواړي په هغه اندازه صلاحيتونه او واک به ورکړي. ويل کېږي چي امان الله خان هغه ته په يوه پيغام کي ويلي وه چي حاضر دی خپله يوه خور هغه ته په نکاح کړي. شېرآقا په خپلو دسيسو کي له دونه بې شرمی څخه کار واخيست چي د شوروي له سفارت سره يې هم د تماسونو د ټينګولو او مذاکراتو کوښښونه وکړل. د شوروي اتحاد سفيرليونيد ستارک د شوروي خارجه وزارت ته وليکل چي شېرآقا د متحدينو د پيدا کولو په لټه کي کوښښ وکړ چي حتی زموږ سره خبري پيل کړي، مګر موږ د هغه غوښتنه رد کړه. بويکو ص ص ۳۱۵-۳۱۶

## د غلام نبي خان چرخي له وژل کېدلو وروسته سیاسي وضع:

د غلام نبي خان چرخي له وژل کېدلو سره، د ډله ایزو بندي کېدلو او اعدامونو سلسله پیل سوه او د عمومي جنګ تر پایه پوري یې په لړ او ډېره پیمانه دوام وکړ. په مقابل کي د نادرخان د کورنۍ مخالفینو او د امان الله خان طرفدارانو او پخپله امان الله خان هم سیاسي فعالیتونو او سیاسي قتلونو ته زور ورکړ. د ۱۹۳۳ کال د جون پر شپږمه سید کمال، چي په جرمني کي یې تحصیل کړی او په هغه هیواد کي اوسېدی، په جرمني کي د افغانستاتن سفیر سردار محمدعزیز خان، د سفارت په ودانۍ کي. وویشت او وواژه. جرمنیانو هغه افغانستان ته ونه سپاره؛ څه باندي یو کال وروسته یې د جولای پر شپږمه په اعدام محکوم کړ او د ۱۹۳۵ کال د جنوري پر څوارلسمه یې اعدام کړ .

سیدکمال په جرمني کي د سمینټو جوړولو په څانګه کي خپل تحصیل پای ته رسولی، او د افغانستان خواته یې حرکت کړی وو، چي په افغانستان کي اماني نظام سقوط وکړ. سید کمال په ایټالیه کي د افغانستان د سفیر، سیدقاسم خان، پر دې مشوره چي په افغانستان کي د اوضاع تر معلومېدلو پوري په روم کي پاته سي غوږ ونه نیوی او د خپلو ملګرو سره یو ځای هند او وروسته کندهار ته، چي امان الله خان د پاچاهی د بیرته نیولو لپاره عملیات پیل کړي ول، ځان ورساوه. شنسب ص ۵۳

سید کمال د غزني په محاصره کي د امان الله خان له ماتي وروسته په ټوله لار کي د امان الله خان ملګری وو او د مارسیز په بندر کي یې له هغه سره خدای په اماني وکړه. امان الله خان یو څه جیب خرڅ هم ورکړ او سید کمال جرمني ته ولاړ. هغه کتاب ص ۹۶

سید کمال، څه موده وروسته، د امان الله خان لپاره د سیاسي فعالیتونو او له هغه سره د سلا مشورو لپاره، روم ته ولاړ. د امان الله خان سره د سید کمال د ملاقات او نتیجې په باب څه لیکل سوي نه دي، خو هغه د امان الله خان په طرفداری کارته دوام ورکړ. هغه کتاب ص ۱۰۶

طبیعي خبره ده چي دا ټول اطلاعات به د افغانستان استخباراتو ته، چي په اروپایي هیوادونو کي یې، د خپلو سفارتونو له لاري، شبکي درلودلي، رسېدلي وي او د سید کمال په لاس به یې د نادرشاه د ورور عبدالعزیز خان د قتلېدلو څخه وروسته د دواړو کورنیو ترمنځ د اختلاف او دښمنی اور نور هم تازه کړی وي.

امان الله خان د دې موضوع حساسیت ته متوجه وو او هیڅ څرګنده مداخله یې پکښي ونه کړه.امیرالدین شنسب، چي د سید کمال شخصي ملګری وو او له هغه سره یو ځای د امیر امان الله خان سره اوږه پر اوږه چنګېدلی وو، له دې امله سخت ګیله من دی او وایي چي امان الله خان، غلام صدیق خان او شجاع الدوله خان، چي ټول په اروپا کي ول، او ښې شته منی یې درلودلي سیدکمال یوازي پرېښود، هیڅ مرسته یې ورسره ونه کړه؛ هغه ته یې یو مدافع وکیل هم استخدام نه کړ او هغه بالاخره دعوه بایلوده او اعدام سو. هغه کتاب ص ۱۴۱

له دې پېښې څخه پوره درې میاشتې وروسته محمدعظیم ، د سفیر مکوناچي د وژلو په منظور، په کابل کې، د برتانیې سفارت ته ننووت او درې تنه یې وویشتل  او ټپیان یې کړل. د کابل حکومت ډېر چټک اقدام وکړ. محمدعظیم یې اعدام کړ، له هغه سره یې محمدولي خان او د غلام نبي خان چرخي ورور غلام جیلاني خان، چې په دې وروستی پېښه کې یې هیڅ ډول لاس نه درلود، اعدام کړل او یو شمېر کسان یې ونیول. آدمک ص ص ۱۹۶-۱۹۷

په داسې حال کې چې د ډیورنډ د پولې پر دواړو غاړو، کابل، ولایاتو او اروپاکی د نادرخان او د هغه د کورنۍ پر ضد تبلیغاتو او دسیسو زور اخیستی وو امان الله خان د ۱۹۳۳ کال د جولای په میاشت کې استانبول ته سفر وکړ؛ ښې ډېرې ورځې یې تېرې کړې ؛ د ترکیې له جمهورریس مصطفی کمال اتا ترک سره یې څو ځله وکتل او افغانستان ته د بیرته تللو په اړه یې د مصطفی کمال څخه مرسته وغوښتله. مصطفی کمال وویل چې شوروي د امان الله خان له طرفدارانو سره مرستې وکړې نو ترکیه به هم خپلې مرستې ونه دریغوي. مګر څرنګه چې سټالین پوځې مرستې ته تیار نه سو نو ترکیې هم سوړ عکس العمل وښود. دې دواړو هیوادونو نه غوښتل چې د امان الله خان سره د مرستې کولو په بدل کې د انګرېزانو دښمني په بیه واخلي. تیخانوف ص ص ۲۷۱-۲۷۲

د ۱۹۳۳ کال د نومبر پر اتمه د نجات د لېسې عبدالخالق نومې شاګرد، نادرشاه په داسې وخت کې په توپنچه شهید کړ چې هغه متعلمینو ته انعامونه وېشل او شهادت نامې یې ورکولې. مورخین پر دې خبرې اتفاق سره لري چې عبدالخالق د غلام نبي خان چرخي په کورنۍ کې لوی سوی او د چرخي د کورنۍ له ماشومانو سره یو ځای ښوونځي ته تللی وو. د نادرشاه له وژنا کېدلو سره یو ځای، لکه څرنګه چې انتظار یې ایستل کېدی، د استبداد اوړ دهشت نوې څپه پیل سوه. د عبدالخالق ټوله کورنۍ او ځیني نیژدې ملګرې او هم صنفیان او د چرخي د کورنۍ ځیني غړي اعدام سول او په لس هاوو کسان د بندیخانو شومه سول.

دا وخت سردار هاشم خان د هیواد شمالي سیمو ته تللی وو او د حربیې وزیر شاه محمودخان، د وضع د خرابېدلو د مخنیوې لپاره، سمدستي د نادرشاه اته لس کلن زوی محمدظاهر پر تخت کښېناوه او د محمدظاهرشاه په نوم یې بیعت ورته غونډ کړ.

د نادرشاه د وژل کېدلو خبر په هغه ورځ په ټوله نړۍ کې خپور سو. امان الله خان د رویټر خبرې آژانس ته وویل چې که چېرې د افغانستان خلک وغواړې نو دی په خپل ټول توان او طاقت د وطن خدمت کولو ته تیار دی  او زیاته یې کړه چې نه سي کولای د نادرشاه په مرګ تر یوې اندازې خوښي ښکاره نه کړي مګر په عین حال کې د افغانستان د پاچا په وژل کېدلو خواشینی دی. تیخانوف ص ۲۷۴

محمدصدیق خان چرخي څو ورځې وروسته له امان الله خان څخه وغوښتل چې په افغانستان کې د خپلو طرفدارانو سره د تماس ټینګولو او د ظاهرشاه پر ضد د تبلیغاتو په منظور په هیواد کې دننه د یوې پټې چاپخانې لپاره ترتیب ونیسي. هغه کتاب هغه مخ

هاشم خان، چې د نادرشاه له وژل کېدلو څخه وروسته، څوارلس کاله د افغانستان اصلي واکمن وو، هیڅ وخت د امان الله خان د له منځه وړلو له پلانونو څخه لاس وانه خیست. د نادرشاه یاور الله نوازخان ته یې د امان الله خان

د له منځه وړلو وظیفه ورکړه او دغه راز یې مکې معظمې ته، چې امان الله خان د حج نیت درلود، خپل سړي ولیږل. د ۱۹۳۴ کال په لومړۍ نیمایی کې شوروي استخباراتو د هاشم خان دسیسې شنډې کړې. هغه کتاب ص ۲۷۵

دغه راز امان الله خان هم د بیرته پاچا کېدلو له تلاښ څخه لاس وانه خیست او تر ۱۹۴۸ کال پورې یې، چې بالاخره یې ظاهرشاه ته رسمي بیعت نامه را ولیږله، تلاښونه کول. د امان الله خان ملګرو د افغانستان څخه بهر، په لیرې اونیژدې ښارونو، برلین، استانبول، بغداد، مکه، تهران، مشهد، کربلا، بمبیی، کوټه او پېښور کې ډېرې لویې او پراخې شبکې فعالې کړې وې او یو ځل خو د برتانیې استخباراتو رپوټ ورکړ چې که امان الله خان اویا دهغه یو نیژدې ملګری د پښتنو قبایلي علاقې ته ځان ورسوي نو دا به د حاکمې کورنۍ د نسکورېدلو معنی ولري. تیخانوف ص ۲۷۸

صدراعظم سردار هاشم خان هم بېکاره نه وو ناست، او د امان الله خان د له منځه وړلو لپاره یې خپلې ټولې استخبارتي شبکې فعالې کړې وې. هغه څو ځله د امان الله خان د وژلو لپاره سړي واستول، خو شوروي استخباراتو، په تېره بیا سټالین، چې د امان الله خان د سر د ساتلو ذمه یې وهلې وه، هر ځل هغه ته اطلاع ورکوله او د سردارهاشم خان دسیسه به یې شنډه کړه. هغه کتاب ص ص ۲۷۵-۲۷۶

مرحوم غبار، ظاهرشاه ته، د امان الله خان د بیعت کولو او د پاچهی د بیرته نیولو د فعالیتونو څخه د لاس پر سر کېدلو د اقدام په باب داسې احساساتي تحلیل کوي چې د ده له نامه او شهرت سره نه ښایي. مرحوم غبار لیکي:

»امان الله خان د افغانستان په داخل کې د انګرېزانو په وسیله له قدرته لیرې سو او په خارج کې د دښمن تر څار لاندې وو. هغه ته یو ځل زهر ورکړه سوه او دغه راز له سخت مالي مشکل سره مخامخ سو. او اندول یې له لاسه ورکړ او ظاهر شاه ته یې بیعت وکړ او له مبارزې څخه یې لاس واخیست. دا کار یې په داسې وخت کې وکړ چې انګرېزان د هند له نیمې وچې څخه وتلي ول او د افغانستان او پښتو نستان خلک د هغه هرکلي ته تیار ول، او نوم یې په پاکستان او هندوستان کې زمزمه کېدی. کله چې دی ظاهرشاه ته تسلیم نو په خارج کې د وطن پالونکو افغاني مبارزینو سیاسي موجودیت ختم سو. او په داخل کې باقي پاتې منورین په دې باور سول چې د ملي او مترقي مبارزو په لار کې د شاه او شهزاده پر اشرافي طبقه باندي تکیه کول اشتباه ده؛ او ریښتونې مبارزه هغه ده چې د کښتې طبقې او ټولنې له خوا پیل سي» غبار جلد دوم ص ۱۰۳

دا تحلیل نه یوازې دا چې تاریخي نواقص لري، پر دې واقعیت باندي سترګې پټکښې پټې سوې دي چې په افغانستان کې د کښتې طبقې مبارزه او رهبري نه په پخوا کې او نه په معاصر تاریخ کې سابقه لري بلکه د میرویس خان څخه نیولې، تر احمدشاه بابا، وزیر اکبرخان، میرمسجدي خان، غازي عبدالله خان، محمدشاه خان جبارخیل، امین الله خان لوګري، محمدجان خان وردګ، د میوندفاتح ایوب خان او ... پورې ټول شهزاده ګان او اشراف ول. هر یوه په خپل وخت کې د استقلال لپاره هلې ځلې کړې او ځینې یې د مرګ تر پولې جنګېدلي دي .

دغه راز، که د مرحوم غبار دا خبره ومنو چې د افغانستان او پښتونستان خلک د امان الله خان هرکلي ته تیارول، نو افغانستان ته د هغه له احتمالي راتګ سره به د نادرخان د کورنۍ د منظمو پوځونو او د امان الله خان د طرفدارانو

تر منځ په جنګونو کي څه ښارونه او کلي تباه سوي او څه په زرهاوو سرونه رغړېدلي وای او لا معلومه نه ده چي دي تباه کونکي جنګ به څونه دوام کړی او د چا په ګټه پای ته رسېدلی وای. زما په عقیده امان الله خان، د یوه وطن پالونکي افغان په حیث، ډېر پر ځای اقدام کړی او لا یي باید پخوا کړی وای.

د نادرشاه شخصیت او اصلاحات:

نادرشاه، لکه څرنګه چي د جنګونو په میدانونو کي ثابته کړه چي د افغانستان د تاریخ د تر ټولو تکړه جنرالانو څخه وو، د اداري، سیاست او د هیواد د آبادی او ترقی په لاره کي خپل لیاقت وښود. د نادرشاه د شخصیت له قوت څخه د هغه ډېر سخت مخالف لیکوال فرهنګ هم انکار نه سي کولای او لیکي چي محمدنادرشاه له جسماني لذتونو سره چنداني علاقه نه درلوده او پر خپل نفس باندي غالب وو. د همدغو خصوصیاتو له برکته یي هم د آمرانو، هم د همکارانو او هم د عامو خلکو باور تر لاسه کولای سو. فرهنګ دوهم ټوک ص ۶۲۳

لودویک آدمک د امان الله خان او نادرشاه شخصیتونه ډېر ښه مقایسه کړي دي او لیکي: نادرشاه او د هغه وروڼه د امان الله خان او د هغه د مهمو طرفدارانو په څېر ول. دوی ټول د ترقی او د هیواد د عصري کولو طرفدار ول. او د افغانستان لپاره یي یو شان نظر درلود. البته نادرشاه تر امان الله خان یو څه واقع بین وو. نادرشاه ته دا خبره څرګنده سوي وه چي افغانستان، تر هرڅه مخکي، یوه عصري او په ښو وسلو سمبال پوځ ته اړتیا لري، څو د هغه په وسیله د قبایلو پر زور او قوت باندي تکیه کمه کړي او قبایل دي ته پرې نه ږدي چي د اصلاحاتو په مخنیوي کي اغېزه ولري. دواړه پاچاهان ډېر لوی وطن پالونکي ول او دواړو د افغانستان لپاره یو مشترک ارمان درلود؛ خو هغه ارمان ته د رسېدلو پر لارچارو باندي یي اختلاف درلود. آدمک ص ۱۹۹

مخکي مو ولوستل چي نادرشاه په داسي شرایطو کي قدرت ته ورسېدی چي نه په خزانه کي یوه پیسه وه او نه یي منظمه پوځي  قوه درلوده. هغه خپله لنډه څلور کلنه دوره د دریو او حتی څلورو لویو او خطرناکو قبیلوي او قومي ښورښونو په ځپلو تېره کړه؛ او له لومړۍ ځوانی، په تېره بیا د قدرت په کلونو کي، هره ورځ د سیاسي رقیبانو سره مخامخ وو،خو له خپلو ټولو سیاسي او نظامي ستونزو سره سره یي د افغانستان د عصري کولو او پر مخ بېولو کار، چي د ده د ژوند ارمان وو، پرې نه ښود .

د مرحوم غبار د دې ادعا په خلاف چي وایي نادرخان د معارف د پراخېدلو مخنیوی کاوه، ځکه چي پر بېسواده او جاهل ملت باندي حکومت کول اسانه کار وو او دغه راز یي په لوی لاس د هیواد د صنعتي کېدلو او سمسورېدلو مخه نیوله، تر څو خلک د خپلو شخصي ستونزو او لوړي له لاسه د حکومت او سیاست په باب فکر کولو او مبارزې کولو ته وخت او فرصت پیدا نه کړي،  غبار ص ۴۷  نادرشاه، تر هر څه مخکي د معارف پراخولو ته توجه وکړه او د هیواد د اقتصادي پر مختیا او عصري کولو خواته یي توجه واړوله .

پر دې حقیقت باندي د نادرشاه مخالف لیکوال فرهنګ هم سترګي نه سي پټولای او لیکي چي په دې زمانه کي د اقتصاد په برخه کي هم تازه ګامونه واخیستل سول چي تر ټولو مهم یي د کابل او د هیواد د شمال ترمنځ د دره شکاري د سړک جوړول او د شرکت سهامي، چي وروسته بانک ملي سو، تاسیسول وه. فرهنګ وروسته لیکي

چې د هندوکش په شمال کې د دې لارې په جوړېدلو سره، حکومت بشپړ تسلط تر لاسه کړ او د شمال د منطقو، په تېره بیا د پنبې او لبلبو د کرنې لپاره ښه زمینه برابره سوه. فرهنګ ص ص ۶۲۰-۶۲۱

نادرشاه په ۱۹۲۹ او ۱۹۳۰ کلونو کې شته من خلک په زور مجبور کړل چې په شمال کې، د قندوز په ولایت او شاوخوا علاقو کې ارزانه مځکې واخلي او هلته پنبه وکري. نادرشاه غوښتل په دې توګه هم د پنبې کښت او کروندې ته وده ورکړي او هم خپله هغه خزانه چې د داخلي جنګ او وروسته لوټمار په وخت کې تشه سوې وه ډکه کړي. خلکو جبه زار د زیم له اوبو خالي کړ او په سیمه کې، هم د زور او هم د تشویق له لارې، د پنبې کښت او صنعت وده وکړه. دوپرې ص ۴۷۴

د نادرشاه حکومت د تجارت د تشویقولو په منظور تاجرانو ته بې له سوده پیسې په پور ورکولې. د اوبدلو کارخانې فعالې سوې. د ایټالوي او جرمني انجنیرانو په سرپرستي،د اوبو شپږ بندونه جوړ سول، چې ۹۵ زره ایکره مځکه یې خړوبه کړه. د تجارت لپاره د اسانتیاوو د برابرولو په منظور نوي سړکونه جوړ سول. تر ۱۹۲۸ کال پورې په هیواد کې د یوولس سوو میلو په اوږدوالي سړکونه موجود ول او په ۱۹۳۴ کې یې اندازه اته لس سوه میله ته ورسېده، او پنځه سوه میله نور سړکونه تر کار لاندې ول. محمدعلي ۲۲۰-۲۲۱

نادرشاه، د خپلې لنډې پاچهۍ په لومړي کال د اساسي قانون د ترتیبولو او په لویه جرګه کې د منظورولو، د تجارت او صنعت ودې ته د توجه کولو او د پوځ د بیرته تنظیمولو تر څنګ، تر هر څه زیاته توجه د عصري تعلیم او تربیې خواته واړوله. هغه سمدستي ښونځي پرانیستل البته د نجونو ښونځي یې، په ټولنه کې د عکس العمل له وېرې، تر یو څه وخته پورې وځنډول او وروسته یې د ملالی په نوم د نجونو ښونځي هم پرانیستله. د طب پوهنځي یې، چې وروسته په هیواد کې لومړنی پوهنځي سوه، پرانیستله. په پوهنځي کې شلو فیصده هلکانو ته د وړیا کتابونو او موادو د تهیه کېدلو ترڅنګ میاشتنی تنخواوې هم ورکولې کېدلې. دغه راز د حبیبیې د لیسې شاګردانو ته، پرته له استثناء، په لومړي کال د میاشتې شل افغانی، په دوهم کال دېرش افغانی او په دریم کال د میاشتې څلوېښت افغانی تنخوا ورکوله کېدله. د پوهنځي محصلینو ته د میاشتې پر پنځوس افغانی تنخوا برسېره، وړیا ډوډۍ او لباسونه هم ورکول کېدل. د پوهنې وزارت مجهز کلینیک درلود چې لایقو ډاکټرانو کار پکښې کاوه. د ښوونځیو شاګردان یې ټول معاینه کول او، د ناروغی په صورت کې یې، وړیا تداوي کول. هغه کتاب ص ص ۱۸۵-۱۸۶

د هغو کسانو لپاره چې د خارجي ژبو د زده کړې سره یې علاقه درلوده، د شپې کورسونه جوړ سول چې خلکو ته یې، په وړیا توګه، جرمني، فرانسوي او انګلیسي ژبې ښودلې او ښه نتیجه یې ورکړه. هغه کتاب ص ۱۸۹

نادرشاه، د ښوونځیو او ځوانانو په ارتباط، په ۱۹۳۱ کال کې یو فرمان صادر کړ او د انجمن کشافان په نوم یې د افغان ځارندویانو انجمن جوړ کړ. د دې انجمن ریاست یې، ولیعهد شهزاده ظاهرخان ته ورکړ. دې ا نجمن تر ۱۹۳۲ کال پورې زر غړي درلودل؛ او په همدغه کال یې د ځارندویانو د بین المللی ټولنې غړیتوب ترلاسه کړ. په ۱۹۳۲ کال کې یې د سردار شاه محمودخان په ریاست، د ملي اولمپیک انجمن جوړ کړ او په ۱۹۳۴ کال کې ډهلي ته او په ۱۹۳۶ کال کې یې برلین ته د لوبډلې اسیا د اولمپیک لوبو ته ځوانان واستول. دا د بین المللي ورزشکارانو سره د افغانانو لومړنی تماس وو.

د نادرشاه په وخت کي، دغه راز د کلتور او هنر د ودي په اړه هم ښه پرمختګونه وسول. د کابل میوزیم ترمیم سو او په کندهار، هرات او مزار شریف کي واړه میوزیمونه جوړ سول. عامه کتابخاني جوړي سوې او په کندهار او هرات کي ادبي ټولني تاسیس سوې، چي لیکوالو او هنرمندانو ته یې د جایزو په ورکولو سره د ادبیاتو او هنر د ودي په اړه ډېر زیات کار وکړ. ګریګوریان ص ص ۳۱۰-۳۱۱

د اعلیحضرت نادرشاه د کلتوري خدمتونو په برخه کي باید دا خبره وکړو چي هغه د افغانستان په تاریخ کي لومړنی پاچا وو چي د پښتو ژبي ودي او علمي کولو ته یې رسمي توجه وکړه. په کندهار کي د هغه وخت د رییس تنظیمه پښتون مشر او لیکوال محمدګل مهمند په مشري د پښتنو یو انجمن جوړ سو او د پښتو په نوم یوه میاشتنی مجله یې، چي علمي، ادبي، اجتماعي او تاریخي مضامین پکښی خپرېدل، چاپ ته وسپارله. په دې علمي او ادبي مجله کي د کندهار او شاوخوا سیمو څخه نیولې تر کابل، مشرقي او لري پښتونخوا پوري لیکوالانو او شاعرانو برخه واخیستله او په زړه پوري او د یادوني وړ خبره دا ده چي د لري او بري پښتونخوا د پښتنو مضامین د هغوی په خپله لهجه او لیک دود ورته چاپېدل. یعني په دې مجله کي خبره یوازي د پښتو ژبي وه او دا مهمه نه وه چي پښتو په کومه لهجه لیکله سوې ده. پر دې برسېره، د لومړي ځل لپاره، د حکیم بیربل په نوم یوه هندو طبیب او د طالب حسین په نوم شیعه لیکوال او شاعر فعاله برخه درلوده. یعني په مجله کي پرته له هیڅ ډول مذهبي او قومي تعصب څخه د هر چا افکارو ته انعکاس ورکول کېدی. دې مجلي په کندهار کي پوره یو کال خپروني وکړې او یو کال وروسته چي مرکه د پښتو یا د پښتنو انجمن کابل ته انتقال سو نو هلته یې د پښتو مجلي پر ځای د کابل مجلي په خپرولو پیل وکړ، چي تر ډېره وخته پوري یې تقریبا ټول مضامین په فارسي ژبه وه.

بېځایه یې نه بولم چي د پښتو د یادي سوي مجلي له لومړی ګڼي څخه د حکیم بیربل د لیکلي وینا د متن یوه برخه راوخلم. هغه وزیرمحمدګل خان ته په خطاب کي وایي: زموږ محترم ګران منلی او ښاغلی وزیر صاحب !

زه د اهالي څخه د قندهار کوم یو سړی یم په نسبت د شکر د دې مجلی د ټولو هندوانو له خوا چي مطیعان د افغانستان دی خصوصا د قندهاري هندوانو له خوا اظهار د شکر کوم. موږ خلق چي په دې وطن کي هستوګنه کوو او افغانستان مو خپل وطن دی په سبب د خلطیت د پښتانه او ټینګ محبت چي له پښتنو سره یې لرو علاوه پر هغه خپلي زړې ژبي مو دا ملي ژبه زده کړې ده، بلکه لغات او کلمات د دې ژبي زموږ د هغې زړې ژبي سره ګډ شوي دی. نو په صداقت وایو چي د پښتو او پښتنو سره زموږ محبت ورځ پخ ورځ ډېرېږي. اکثر زموږ خلق چي په لیک او کتابت پوهیږي ټوله یې لیکلای او هم یې ویلای شي. پښتو مجله لومړی ګڼه ۲۸-۲۹ مخونه

یو شی چي نادرشاه هر وخت، په تېره بیا د اجتماعي او فرهنګي اصلاحاتو د عملي کولو لپاره، ضرورت ورته احساساوه هغه د یوه منظم او قوي پوځ درلودل وه. د پاچا کېدلو سره سم یې ټولو پوځیانو ته د شلو افغانیو په عوض کي پنځه ویشت افغانی او راشن حواله کړ. د پوځ پر مرکزي روغتون برسېره، په هره قطعه کي یو کلینیک موجود وو او په پوځي ښوونځي او پوهنځي کي یې لایق خارجي استادان په کار وګومارل. محمدعلي ص ۱۸۴ د قدرت په لنډه موده کي یې د منظمو پوځیانو شمېر څلوېښتو زرو ته ورساوه او په هغه پوځي قوه یې درې لوی قومي او قبایلي ښورښونه کرار کړل. ټیټلر ص ۲۳۱

له نادرشاه سره برتانيي ۱۷۵ زره پونده نغده بې عوضه مرسته وکړه او دغه راز يې لس زره توپک او پنځه لکه مرمی ورکړې. جرمني پنځه زره توپک او نيم ميلون کارتوس په پور ورکړل، دغه راز يې له برتانيي څخه پنځه زره توپک رانيول او له فرانسي څخه يې شپاړس زره توپک او تقريبا دوه ميليونه مرمی واخيستلې. نادرشاه غوښتل چې د خپل پوځ شمېر سلو زرو منظمو پوځيانو او دوولس زره احتياط ته ورسوي او تل به يې ويل چې د پوځ وظيفه د افغانستان د ملي يووالي ساتل او د ترقی او پر مختګ د پروګرامونو ملاتړ دی. په کابل کې يې د پوځې ښوونځی فارغانو ته په يوه وينا کې وويل زه هيله لرم چې افغانستان به داسي غښتلی پوځ ولري چې د دوستانو په شمله کې به ګل او د غليمانو په سترګو کې به اغزی وي. داسي پوځ چې زموږ په هيواد کې به سوله تامين او نيکمرغي تضمين کړي. ګريګوريان ص ص ۲۹۷-۲۹۸

د نادرشاه په لنډه څلور کلنه دوره کې، چې په تش لاس قدرت رسېدلی او د قبايلو او اقوامو د ښورښونو او سياسي ستونزو په غېږ ورغلی وو، د تجارت او پانګي اچوني په ساحو کې دونه پرمختګونه وسول چې د افغانستان په تاريخ کې يې سارى نه وو ليده سوى .

افغان سهامي شرکت، چې په ۱۹۳۰ کال کې جوړ سوی وو، په ۱۹۳۲ کې يې نوم بانک ملی سو. د دې بانک لومړنی پانګه پنځه دېرش ميليونه افغانی وه او وروسته ۶۳ ميليونه افغانی سوه. د دې بانک موسس يو شته من تاجرعبدالمجيد زابلي وو. د افغانستان حکومت د بانک له تاسيسېدلو څخه وروسته وکړای سول چې د ۱۹ ميليونو افغانيو په ارزښت د پنځو، لسو، شلو، پنځوسو او سلو افغانيو نوټونه چاپ کړي. هغه کتاب ص ۳۱۵

د ۱۹۳۲ او ۱۹۳۴ کلونو ترمنځ، د بانک ملي په تشويق، تقريبا دېرش لوی سهامي شرکتونه جوړ سول. په کابل کې د قره قل د پوستکو ځيني لوی شرکتونه ، د صابرشرکت د شپږو ميليونو افغانيو په پانګه، توکل د يوميليون افغانيو، برادران د يو ميليون افغانيو، قناعت د يو ميليون او دوه نيم لکه افغانيو او کوشش د يو نيم ميليون افغانيو په پانګه جوړ سول. د افغانستان په شمال کې يو شمېر شرکتونه جوړ سول چې هغوی هم د پسونو پوستکي صادرول: ايبک، سلامت، سعادت، صداقت، اخلاص او د ميمني شرکتونو ټولو، هر يوه، يو ميليون افغانی او لا زياتي پانګي درلودلې. د وارداتو تر ټولو لوی شرکت په کابل کې د تېلو شرکت وو چې د تېلو د واردولو او د تېلو له خارجي شرکتونو سره د انحصار حق يې درلود. نور لوی شرکتونه عبارت ول په هرات کې د اطمينان په نوم شرکت، چې دوه نيم ميليونه افغانی پانګه يې درلوده او د وړيو او پسونو د پوستکو صادرات يې کنټرولول. اتحاديه شمالي شرکت د لسو ميليونو افغانيو په پانګه د قره قل پوستکي صادرول او سمينټ او نور مواد يې واردول. په کندهار کې د پښتون شرکت، د څه باندي يو نيم ميليون افغانيو په پانګه وچه مېوه صادرول. دغه راز يو شمېر دولتي صنايع لکه په جبل السراج کې د نساجي فابريکه او په کابل کې د اورلګيت جوړولو او څرمني کارخاني خصوصي پانګه والو ته په اجاره ورکول سوي وې .

د نادرخان حکومت د تجارت د تشويقولو او پراخولو په منظور په لندن، لېپزيک، ماسکو او پاريس کې تجارتي استازي مقرر کړل. هغه کتاب ص ص ۳۱۵-۳۱۶

نادرشاه د خپل قدرت په زمانه کې د خپلو قوي ګاونډيانو، برتانيي هند او شوروي اتحاد ترمنځ بېطرفي وساتله. هغه نه يوازي د افغانستان شمال ته راغلي باسماچيان تقويه نه کړل بلکه، په افغانستان کې، د شوروي اتحاد مداخلي

ته د پلمي د جوړېدلو د مخنيوي په منظور يې له خپلې خاورې څخه وايستل او دغه راز يې د ډيورنډ د پولې پر پورې خوا د قبايلو په چارو کې له ښکاره لاس وهنې څخه ځان وژغوری. نادرشاه له دوارو ګاونډيو قدرتونو سره خپل دوستانه اړېکې وساتل که څه هم چې کابل ته د راغلو امريکايانو سره د ليدني پر وخت له وينا څخه يې په څرګنده ښکاري چې د دوارو ګاونډيو هيوادونو پر دوستي او نيتونو باندي شکمن وو. هغه راغلو امريکايانو ته بلنه ورکړه چې د افغانستان تر مځکي لاندي مواد را وباسي او هغوی ته يې وويل چې افغانستان د تېلو، د ډبرو د سکرو، مسو او نورو قيمتي شيانو او تجارتي موادو ښې ذخيرې لري. ده هغوی ته وويل چې موږ نه غواړو د افغانستان دغه منابع په هغو اروپايي هيوادونو را وباسو چې پر افغانستان باندي د يرغل کولو نيتونه لري. هغه کتاب ص ۳۳۶

نادرشاه هم له برتانوي هند او هم له شوروي اتحاد څخه وخت ناوخته تخنيکي سلا مشورې ترلاسه کولې مګر په هيواد کي يې د دوارو هيوادونو فعاليتونه محدود کړي ول. روسانو ته يې په افغانستان کي د تجارتي فعاليتونو اجازه ورنه کړه او دغه راز يې د برتانيي فعاليتونه هم په کلکه څارل. په ښوونځيو کي يې فرانسوي او جرمني ښوونکي استخدام کړي ول مګر د انګليسي ژبې لپاره يې هندي ښوونکي په کار اچولي ول. د نادرشاه په پاچهي کي، په ټول افغانستان کي، د ډيپلوماټانو په شمول، يوازي اويا تنه اروپاييان اوسېدل. فرانسوي او جرمني ماهران او ايټالوي صاحب منصبان يې استخدام کړي ول مګر يو برتانوی يې هم نه وو استخدام کړی. هغه د قبايلو استازو ته وويل چې زما حکومت، تر نن ورځي پوري، هيڅ هيواد ته امتيازات نه دي ورکړي او تر څو چې زه ژوندی يم زما په لاسليک به څوک امتياز راڅخه وانه خلي. هغه کتاب ص ۳۳۷

نادرشاه د اروپا په برخه کي د امان الله خان پاليسي تعقيب کړه او غوښتل يې چې افغانستان د اروپايی هيوادونو لپاره پرانيزی. هغه، له برتانيي او شوروي اتحاد څخه پرته، له يو شمېر اروپايی هيوادونو سره ښې ښې تړونونه لاسليک کړل. له يوه فرانسوي ژورناليست سره په مرکي کي يې وويل چې موږ فرانسي ته، د امان الله خان په څېر، د يوه دوست هيواد په سترګه ګورو او هيله لرو چې، پر لرغون پېژندني برسېره، چې ښې نتيجې يې ورکړې دي، په هره ساحه کي مرستي راسره وکړي. ښوونکي، انجنيران او په هره څانګه کي ماهران را ولېږي چې زموږ سره د خپلو شته منيو څخه د ګټو اخيستلو په کار کي کومک وکړي. هغه کتاب ص ص ۳۳۴-۳۳۵

نادرشاه دغه راز غوښتل چي د جرمني له ماهرانو او مرستو څخه هم د هيواد په هره برخه کي کار واخلي. په ۱۹۱۵ کال کي، چي هينتيګ او نيدرماير، له جرمني څخه، د يوه لوی هيات سره، کابل ته راغلل او غوښتل يې چي امير حبيب الله خان د جرمني او ترکيي سره لاس يو کړي او د برتانوي هند پر ضد په جهاد کي برخه واخلي، نادر خان د جرمني هيات د طرحي له طرفدارانو څخه وو او له برتانيي سره د جنګ پر خواوو. کله چي قدرت ته ورسېدی نو جرمني ته يې بلنه ورکړه چي خپل ماهران افغانستان ته واستوي او د دې هيواد له منابعو څخه ګټه واخلي. ده وويل جرمني د نړی تر ټولو ښه ډاکتران، تر ټولو بهتر انجنيران، تر ټولو ښه عسکر او تر ټولي نړی تکړه پوځ لري خو افسوس چي ترټولو ښه سياستمداران يې هم درلودلای. آدمک ص ۱۹۰

کله چي د جرمني سفير هربرټ شوربل په ۱۹۳۳ کال کي له کابل څخه ولاړ نو وې ويل چي په افغانستان کي داسي ساحه نسته چي هلته دي جرمني ماهران نه وي. د نساجي له توليداتو څخه واخله د توکمو تر جوړولو،

سمینټوجوړولو، چاپخانو، نجاریو، رنګرېزيو او موټرونو تر میمولو پوري په هره برخه کي جرمني ماهران کار کوي. هغه کتاب ص ۲۱۰

د نادرشاه په ابتکار، د طب د پوهنځي جوړېدل ډېر مهم کار وو، او په لنډ وخت کي د هیواد د خلکو صحي اړتیاوو ته یو څه توجه وسوه. ځینو روغتونونو د طب د پوهنځي سره پیوستون وکړ او له لابراتوارونو څخه یې ګټه اخیستله. په دې برخه کي یو مهم ګام د ایکسرې د ماشین فعاله کېدل او د هغه تر څنګ د دماغي ناروغانو لپاره روغتون، د غابنو کلینیک او د ښځو لپاره د روغتون جوړېدل ول. نادرشاه د نري رنځ د ناروغانو لپاره، د لومړي ځل لپاره، یو سناتوریوم جوړ کړ او هغه یې د خپل مخصوص ډاکټر ریفقي کامل اورګا په نوم، چي په کابل کي یې اته لس کاله خدمت وکړ، ونوماوه. دغه راز یې په دارلامان کي د ښځو لپاره یو بل سناتوریوم جوړ کړ. د نارینه وو سناتوریوم شل بستره او د ښځو سناتوریوم دېرش بسترونه درلودل. ګریګوریان ص ۳۱۳

څرنګه چي په علي اباد کي سناتوریم او د طب پوهنځي د نادرشاه پر خپله مځکه او د هغه په شخصي لګښت جوړ سوي دي نو لازمه یې بولم چي د حافظ نور محمدکهګدای هغه یاداشت راواخلم چي د هغه زوی عزیزالله کهګدای د افغان جرمن آن لاین په سایټ کي خپور کړی دی« علي آباد، چي په کابل کي د سخي د زیارت سره نیژدې موقعیت لري، د اشرف الوزرا شاه ولي خان بامیزایي د زوی مختارالدوله ملکیت وو چي شاه زمان وربخښلی وو. له ده څخه وروسته دا جایداد د هغه زوی غلام احمد ته په میراث ورسېدی. هغه دغه مځکه خپلو زامنو غلام سرور، غلام نبي، غلام مصطفی، غلام رسول او غلام حبیب ته ورکړې وه. امیر عبدالرحمن خان، د بېلو بېلو علتونو له مخي له دوی څخه قلا، باغ او د علي آباد شاوخوا مځکي ضبط کړې. په ۱۹۱۹ میلادي کال کي د وخت حکومت( اعلیحضرت امان الله خان جهاني) دغه سیمه اعلیحضرت محمدنادرشاه ته، د استقلال د ګټلو په وخت کي د خدمتونو له امله، وبخښله. نادرشاه پر هغه ځای باندي یوه درې پوړیزه وداني د رفقی سناتوریم په نوم د خپلو شخصي پیسو څخه اباده کړه. په دغه روغتون کي د ناروغانو لپاره شپېته بسترې او بشپړ لوازم موجود وه، او د روغتون په مقابل کي یې، د ناروغانو لپاره، یو لوی باغ هم جوړ کړ «

د نادرشاه د نظام تر ټولو لویه او مهمه ښېګنه دا وه چي د سقاوي نظام له نسکورولو څخه وروسته، چي معلومه نه وه تر کله به یې داوم کړی وای، منځته راغلی او پر پښو درېدلی وو. نادرشاه، په تش لاس او بېله منظم پوځه، په داسي حال کي کابل ته ننوت چي سقاوي رژیم د هیواد ټولي تعلیمي، مالي او پر مختیایی پروژې له منځه وړې او د پایتخت هره برخه یې تباه کړې وه؛ خو هغه په خپله لنډه څلور کلنه دوره کي داسي مرکزي او قانوني نظام جوړ کړ چي د ده تر ناڅاپي وژل کېدلو وروسته هیڅ داسي محسوس حرکت ونه سو چي د نادري نظم د خرابېدلو سبب سوی وای .

په ټولنو کي ښورښونه معمولا د استبداد په مقابل کي د عکس العمل په توګه منځته راځي او کله کله یې لمن دونه پراخه سي چي غښتلي نظامونه نسکور کړي. مګر د نادرشاه استبداد، برعکس، د ښورښونو او مخالفتونو په مقابل کي عکس العمل وو. نادرشاه د کابل د نیولو او سقاویانو د نسکورولوڅخه وروسته د سقاویانو ځیني طرفداران او نیژدې کسان د قومي او سمتي مخالفتونو د کرارولو په منظور مقرر کړل. هغوی د همکاری پر ځای، په شمالي کي په دونه قوت، ښورښ پیل کړ چي د ښورښیانو شمېر پنځه ویشتو زرو ته ورسېدی. دغه راز د هیواد په شمال

کې، د شوروي څخه د راغلیو مهاجرو باسماچیانو د مشر ابراهیم بیګ، چې هم یې پایتخت ته د راتللو په برخه کې د نادرشاه غوښتنه ونه منله، هم یې د مزارشریف د ولایت مرستیالي رد کړه او هم یې د وسلو د تسلیمولو څخه انکار وکړ، پرته له دې چې د پوځ او قبایلي جنګیالیو په زور ځپل سوی وای بله څه لاره درلوده. په پکتیا کې د لېوني ملا د بښورښ د کرارولو لپاره خو شاه محمودخان د خبرو لپاره ورغی. کله چې خبرو ګټه ونه کړه او د بښورښ لمن پایتخت ته رسېدله، نادرخان له پوځي قوې څخه د کار اخیستلو پرته بله څه چاره درلوده؟

امان الله خان، د دوهم عمومي جنګ تر پایه پورې، د پاچهی د بیرته نیولو له تلابښونو څخه لاس وانه خیست او د نادرخان د رژیم د بدنامولو او نسکورولو لپاره یې له هري وسیلې څخه کار اخیست. له هغه سره، په بېلو وختونو کې، د شوروي اتحاد د مشر ستالین، د ترکیې د جمهورریس مصطفی کمال اتاترک، د ایټالیې د صدراعظم موسولیني، د ازادو قبایلو او غلجیو او په صوبه سرحد کې د خان عبدالغفار خان د سورکمیسو ملاتړ ملګری وو. دا د هغه وخت د تبلیغاتو اثر دی چې زموږ خلک، په تېره بیا منورین، نادرخان د انګرېزانو ګوډاګی بولي؛ په داسي حال کې چې د دې ادعا د ثبوت لپاره تر اوسه پوري چا هیڅ سند وړاندي کړی هم نه دی. او په مقابل کې ټول تاریخي شواهد او آرشیفونه ښیي چې نادرشاه مستقله اراده درلوده او د امان الله خان او نورو وطن پالونکو افغانانو په څېر، پر استقلال او ترقی مین، وطن پال افغان وو.

مرحوم غبار پر نادرشاه باندې د نورو ټولو تورونو لګولو تر څنګ دا خبره هم کوي چې د نادرشاه د خاندان هر غړي د اروپا په بانکونو کې په میلیونو ډالر ذخیره کړي دي. غبار ص ۱۰۲ دا چې مرحوم غبار به دا معلومات له کومه کړي وي زه څه نه سم ویلای خو زه مجبور یم چې خپل د سترګو لیدلی حال د لوستونکو د قیاس لپاره وړاندې کړم.

زه د ۱۹۸۳ کال د جولای د میاشتې په پای کې متحده ایالاتو ته راغلم او دلته مې د امریکا ږغ راډیو سره کار پیل کړ. ما په الیکزانډریه کې ژوند کاوه؛ او زموږ هستوګنځی ته نیژدې، د اعلیحضرت محمدظاهرشاه مشره مېرمن خاتول په هالي دې این هوټل کې مزدوره وه ، تشنابونه یې پاکول او د مېلمنو بسترې به یې جوړولې. تر هغه ځایه چې زه خبر یم دې کار ته یې لږترلږه لس کاله نور دوام ورکړ. د ظاهرشاه لمسی، د والاحضرت احمدشاه زوی، ظاهر نومېدی او د نورو عادي افغانانو د اولادونو په څېر یې، د مکتب څخه له رخصتېدلو وروسته، د مک ډانلډ په رستوران کې، تر ماښامه کار کاوه. ما پخپله لیدلی او شخصا مې پوښتنه ورڅخه کړې او احوال یې راته ویلی دی؛ اوس نه یم خبرچې چېري به وي. شهزاده احمدشاه پخپله، تر دې وروستیو وختونو پوري، د حکومت په مرسته، یوه اپارتمان کې ژوند کاوه او په لومړیو شپو ورځو کې یې، د څو پیسو د ګټلو او ابرومندانه ژوند کولو لپاره، دوه درې ځله د ټکسي چلولو تصمیم ونیوی خو د ویرجینیا په ایالت کې اوسېدونکو محمدزیو منع کړ او تل به یې ورته ویل چې دا د هغوی د حیثیت او آبرو مسله ده؛ دی چې هر څه ته ضرورت لري هغوی به یې ورته برابروي. د ظاهرشاه دوهم زوی نادر د کاناډا په ټورنټو کې د پیزې پخولو په یوه دوکان کې، څه باندې شل کاله مزدور وو؛ او دا مې لا هم اورېدلي چې کله کله به یې د پیسو په بدل کې ګیتار هم ږغاوه. څوک چې سل زره ډالره ولري، پر خپل ځان اولاد او مېرمني به، په یوه پردي هیواد کې دغه ډول د ذلت او خواری ژوند څرنګه

ومني. په داسي حال کي چي زموږ مورخين او منورين وايي چي د نادرشاه د کورنی هر غړي په بهرنيو ملکونو کي په ميليونونو ډالر ذخيره کړي ول.

د سردار نعيم خان زوی عزيز نعيم، چي د حقوقو د پوهنځی يو لايق استاد وو، تر مرګه په لندن کي، په يوه عادي اپارتمان کي ژوند وکړ. د سپه سالار شاه محمودخان زوی، سلطان محمود غازي، د خپلو نورو خپلوانو په څېر په ويرجينيا کي په يوه عادي اپارتمان کي ژوند کاوه. زه يې ځو ځله کورته ورغلی يم او د هغه عادي فقيرانه ژوند مي له نيژدې ليدلی وو.

## مأخذونه


مبارز، عبدالحميد. تحليل واقعات سياسي افغانستان. چاپ ۱۳۷۵( ۱۹۹۶)

۲ غبار، ميرغلام محمد. افغانستان در مسير تاريخ، جلد دوم. چاپ ۱۹۹۹ ويرجينيا، ايالات متحده.

۳ فرهنګ، محمد صديق. افغانستان در پنج قرن اخير، در سه جلد. سال و مکان چاپ نامعلوم.

۴ شنسب، اميرالدين. خاطرات هشتاد سال زندګي يک افغان. چاپ دوم ۱۳۸۰(۲۰۰۱) پېښور

۵ آقابکف، ژورژ سرګيويچ، خاطرات آقابکف. ترجمه ډاکتر حسين ابوترابيان. ۱۳۵۷( ۱۹۷۸) تهران

۶ انيس، محی الدين. بحران و نجات. چاپ دوم، ۱۹۹۹مرکز نشراتي ميوند

۷ کاتب، ملافيض محمد. تذکرالانقلاب. ۲۰۱۳ جرمني

۸ مجددي، عبدالحق. افغانستان از امير کبير تا رهبر کبير. ۱۹۹۹ پېښور

۹ تيخانوف، يوري. نبرد افغاني ستالين. ترجمه عزيز آريانفر. انټرنيټ

۱۰ راز های سر بمهر. تهيه دانشمندان اتحاد شوروي. ترجمه عزيز آريانفر. انټرنيټ

۱۱ بويکو، ولاديمير. دولت و اپوزيسيون درافغانستان. ترجمه عزيز آريانفر. چاپ ۲۰۱۱ انتشارات ميوند

۱۲ نويد، سنزل. واکنش های مذهبي و تحولات اجتماعي در افغانستان. ترجمه محمدنعيم مجددی. ۲۰۰۹ انتشارات احراري هرات

۱۳ کشککي، برهان الدين. نادرافغان. ۱۹۳۱ مطبعه دولتي کابل.

۱۴ خان عبدالولي خان، باچا خان او خدايي خدمتګاري. لومړی ټوک. ۱۹۹۳ پېښور.

١٥ شاه ولي خان، مارشال. یاداشت های من. چاپ پنجم . مطبعه دولتي کابل

١٦. Tendulkar, D.G. Abdul Ghafar Khan. ١٩٦٤ New Delhi

١٧. Gregorian, Vartan. The Emergence of Modern Afghanistan. ١٩٦٩ California.

١٨. Adamec, Ludwig. Afghanistan’s Foreign Affairs to the Mid-Twentieth Century. ١٩٧٤ U.S.A

١٩. Dupree, Louis. Afghanistan. ١٩٨٠ U.S.A

٢٠. Tytler,W.K.Fraser. Afghanistan, A Study of Political Developments. ١٩٦٤ Oxford University.
Oxford University Press.١٩٦٧

٢١. Mohammad Ali, Professor. Progressive Afghanistan. ١٩٣٣ Lahore.

٢٢. Poulada, Leon B. Reform and Rebellion in Afghanistan. ١٩٧٣ Cornell University U.S.A

٢٣. Stewart, Rhea Tally. Fire in Afghanistan. ١٩٧٣ New York.

٢٤ Swinson, Arthur. North West Frontier ١٩٦٧ London.

اعلیحضرت محمد نادرشاه

jahani_a_bahari_sa_maj_moh_nader_shah.pdf